

# الرساله

Ketabton.com

## جنوري - ۱۹۷۷

## درېیمه ګڼه؛ پښتو - مارچ، ۲۰۲۵ز

یوه سیاستمدار د کیمیا لټوونکي ته وویل «د فولادو د سرو زرو کولو تر ټولو اسانه او بریالۍ لاره دا ده، چې فولادو ته د سرو زرو رنګ ورکړه.»

ملک مایارام له غور او فکر پرته خپل زړه درکولی شي، خو چې پور درکوي، نو بیا په غور او فکر به یې درکوي.

- **د اتحاد برکتونه**
- **صحافت: یو فرصت چې تر دې دمه...**
- **له مرګ وروسته ژوند**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرساله

## جنوري - ۱۹۷۷

درېيمه ګڼه؛ پښتو - مارچ، ۲۰۲۵ز

سرپرست: مولانا وحيد الدين خان رح

ژباړه: رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای د خپلې نړۍ نظام په ډېرو کلکو ستنو درولی دی. یوه ونه هم په جادویي ډول نه را زرغونېږي. هېڅ کله داسې نه کېږي، چې یو ستوری دې خېز ووهي او ناڅاپه دې له یوې څنډې نه بلې څنډې ته ورسېږي.

په دغسې دنیا کې موږ د یوه داسې «بزرګ» زوکړې ته په تمه یو، چې د خپلو کراماتو له لارې لویې پېښې رامنځته کړي. د یوه داسې «رهبر» په لټه کې یو، چې یوه لویه کارنامه وکړي او د سترګو په رپ کې د قوم لپاره نوی راتلونکی وپنځوي.

هغه خلک چې په دغسې هیلو پورې یې زړونه غوټه کړي وي، هغوی باید پوه شي، چې په دې دنیا کې د دغسې طلسماتي پېښو هېڅ امکان نشته. که خلک غواړي چې د طلسماتو په اسرې ژوند وکړي، نو بیا به د ځان لپاره د خپلې خوښې مطابق یو بل کاینات پنځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


د اتحاد برکتونه ........................................ 1
د هغو په حق کې د خدای خبره رښتیا شوه ........................ 2
ظاهري حالات چې هر څومره هم سخت شي، د نوي ژوند امکان تل موجود وي ... 4
صحافت: یو فرصت چې تر دې دمه مو ورنه ګټه نه ده اخیستې ............... 5
د سکاټ لینډ په جهیل کې د ارتقا د تیورۍ لپاره د بیولوژیکو نښو لټون ............ 7
نړۍ دعوتګر ته سترګې په لاره ده.................................... 8
د منځنۍ افریقا ولسمشر اسلام قبول کړ ............................ 9
آیا موږ دې آزموینې ته تیاری نیولی دی؟................................ 9
په مدینه کې د درې مذاهبو کانفرنس ................................ 9
مبارک کار ........................................ 15
د کتاب نړۍ ........................................ 15
د کاینات ستره او هیښوونکې کارخونه د دې ګواهي ورکوي،................. 17
له مرګ وروسته ژوند ........................................ 21
له اسلام نه دمخه د عربو د تاریخ باوري سرچینه قرآن کریم .................. 25
ټوکه ........................................ 26
د پند خبرې ........................................ 27

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سر مقاله

د الله تعالی ځانګړې لورېينه ده، چې «الرساله» په لنډه موده کې خورا هيښوونکې بريا ترلاسه کړه. نه يوازې د هېواد په بېلا بېلو کړيو کې بلکې له هېواد نه بهر يې هم تود هرکلی شوی دی، ګواکې خلک د حال په ژبه ګويا دي، چې:

لله الحمد هر آن چيزی که خاطر می خواست آخر آمد ز پس پرده تقدير پديد.

«په الرساله سياسي تنده نه ماتېږي.» د دې ګيلې په هکله به ووايو، چې د الرساله خو مقصد همدا دی، چې سياسي ذوق ورسره ختم شي. نو بيا الرساله پخپله څرنګه د سياسي مېوې ونه کېدلی شي. په اوسنۍ زمانه کې چې زموږ ملي رسنۍ کومه نتيجه نه ورکوي، يوازينۍ لويه وجه يې همدا سياسي ذوق دی. د دين او رغونې د کار لپاره بل هېڅ شی هم له سياست نه ډېر وژونکی نه دی او موږ له دې زهر قاتل نه په بشپړ ډول لرې والی غواړو. دا کومه لنډمهاله تګلاره نه ده، بلکې يوه سنجول شوې لاره ده، چې له کلونو راهيسې مو سفر پرې کړی دی. (ظفر الاسلام خان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اتحاد برکتونه



په یوه حدیث کې راځي: قال اللهﷺ، قال الله عزوجل: **اذا ثالث الشریکین مالم یخن احدهما صاحبه.**

الله تعالی فرمايي: د دوو شریکانو دریم زه یم، تر هغو چې یو ملګری له بل سره خیانت ونه کړي.

معنا یې دا ده، چې یوه ډله تر هغو پورې د الهي نصرت مستحقه وي، چې غړي یې د یو بل خیرغوښتونکي وي. خو کله یې چې د یو بل لپاره بدي زړونو ته لاره وکړي، چې کله یې په منځ کې د خیانت بادونه ولګېږي، نو بیا الهي نصرت هم ترې اخیستل کېږي.

له دې نه دا هم معلومه شوه، چې له خدای سره د تعلق معیار له انسانانو سره تعلق دی. که د چا له خدای سره تعلق سم وي، نو خامخا به یې له انسانانو سره هم تعلق سم وي. خو د چا چې له انسانانو سره تعلق سم نه وي، نو پوه دې شي، چې له خدای سره یې هم تعلق سم نه دی، که په ښکاره هر څومره هم د خدای په اړه غړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هغو په حق کې د خدای خبره رښتیا شوه

د حضرت موسیﷷ (۱۴۰۰- ۱۵۲۰ ق م) تر راتلو دمخه ۳۵۰۰ کاله پخوا دا پېښه وشوه، چې د فلسطين او شام ځينې عرب، چې «عماليق» يې بلل، مصر ته ننوتل او هلته يې د ځايي واکمنو له خپلمنځي اختلافاتو ګټه پورته کړه او د مصر په سلطنت واکمن شول. حضرت يوسفﷷ (۱۷۹۶- ۱۹۰۶ ق م) چې د زلېتوب په زمانه کې له فلسطين نه مصر ته ورسېده، نو دغه مهال په مصر باندې د ده د قوم واکمني وه. د يوې ښځې له امله تر ځينو ابتدايي ستونزو وروسته په مصر کې د يوسفﷷ ډېر زيات مقبوليت په برخه شو. يوسف د ډېر پرتمين شخصيت خاوند و او د دې په خوا کې په ډېر ښې ساري حکومتي استعداد هم سمبال و او له مصري واکمنو سره د نسلي نږدېکت له امله يې د وړتياوو د اعتراف په برخه کې هېڅ خنډ مخې ته ونه درېده. د يوسفﷷ په زمانه کې عربي پاچا اپوفيس سره له دې چې د ده دين ته غاړه کېښنبوده، خو بيا يې هم د ټولو حکومتي چارو واګې د ده په لاس کې ورکړې. له دې وروسته حضرت يوسف خپل پلار حضرت يعقوب (اسرائيل) او نوره کورنۍ هم مصر ته وغوښتل. دا خلک شاوخوا څلور سوه کاله د مصر په حکومت واکمن وو. د مصر قانوني واکمن خوبيا هم مشرک عماليق وو، خو عملاً واک د بني اسرائيلو په لاس کې و.

بني اسرائيل چې مصر ته راغلل، نو دلته په ډېرو ابادو او زرخېزو ځمکو کې ځای په ځای شول او د حکومت لوړ منصبونه د همدوی لپاره خاص وو. خو دا د اکثريت په سر د اقليت واکمني وه. د بائبل له مخې د يعقوب (اسرائيل) کورنۍ چې مصر ته رامهاجره شوه، نو د يوسف په شمول يې شمېر ۶۸ تنه وو. د توالد او تناسل او د تبليغ له لارې د لرغوني دور د «مسلمانانو» شمېر ورو په ور زيات شو. تر دې چې پنځه سوه کاله وروسته چې حضرت موسی سرشمېرنه وکړه، نو يوازې د نرانو شمېر يې شپږ سوه زرو ته رسېدلی وو. سره له دې چې د هغې زمانې د مصري نفوسو دقيقه احصائيه زموږ په لاس کې نشته، خو د يوه اټکل له مخې ويلی شو، چې په هغه زمانه کې به د مصر په نفوسو کې د بني اسرائيلو شمېر شاوخوا ۱۰ سلنه و.

حضرت يوسف ۱۱۰ کاله ژوند وکړ. له يوسف نه څلور سوه کاله وروسته په مصر کې د عربي واکمنو په ضد پاڅونونه وشول او له اوږدو جګړو او خونريزيو وروسته بلاخره قبطيان واک ته ورسېدل. دوی د مصر بهرني واکمن له واک نه وپرځول او په مصر باندې د قبطي کورنۍ واکمني پيل شوه، چې واکمنو يې د ځان لپاره «فرعون» لقب غوره کړ.




د قبطي حکومت له جوړېدو وروسته دوه نيم سوه زره عربان له مصر څخه وشړل شوو، خو بني اسرائيل بيا هم همالته وساتل شوو، تر څو نوي واکمن په بېګار کارونو کې تري کار واخلي. د بائبل په وينا «مصريانو د خدمت اخيستو لپاره په بني اسرائيلو سختي وکړه او په ډېر زحمت يې د خټو او تيږو او د کروندو ټول کارونه په هغوی وکړل او د هغوی ژوند يې ور تريخ کړ. او له هغوی نه به يې چې په هره برخه کې کار اخيسته، ټول يې له خواريو ډک کارونه وو.» (خروج ۱: ۱۳-۱۴)

حضرت موسیﷷ چې سترګې وغړولې، نو بني اسرائيل ډېر د ځور او کړ په حالت کې وو. خو موسیﷷ د قبطيانو د فرعوني کلچر پر وړاندې د مغلوبېدو په ځای د هغوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقابل کې د اقدام لاره ونیوله. ده خلکو ته تبلیغ پیل کړ، چې الهي دین در خپل کړئ، که نه وي تاسو ټول به له منځه یووړل شئ. دې کار د فرعون غوسه نوره هم تونده کړه. او د بني اسرائیلو لپاره د مصر ژوند د موسی له راتګه وروسته تر پخوا هم ډېر تریخ او د زهرو ګوټ شو. فرعون په تېرو کړاوونو کې یوه بله زیاتونه دا هم وکړه، چې د شاهي حکم له مخې د بني اسرائیلو د زامنو وژل یې پیل کړل، تر څو د دوی نسل ورو په ورو د مصر له خاورې نه ورټول شي. د لرغونو مصري اثارو د کیندنو په ترڅ کې په ۱۸۹۶ کې یوه لوحه وموندل شوه، چې په هغه کې د موسی د زمانې فرعون منفتاح په ډېر ویاړ سره وایي «او اسرائیل وځپل شوو، او آن تخم یې هم پاتې نه شو.»

په دې وخت کې بني اسرائیلو حضرت موسی ته شکایت وکړ: «ستا له راتګه مخکې هم ځورول کېدو او ستا له راتلو وروسته هم ځورول کیږو.» (اعراف – ۱۲۹)

په دې نازکه شېبه کې بني اسرائیلو ته چې کوم ځواب ورکول شو، د قرآن کریم په ژبه کې هغه ځواب په دې ډول و: **وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا وَاجْعَلُواْ بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ.** (یونس: ۸۷)

ژباړه: او موسی او د هغه ورور ته مو وحي وکړه چې د خپل قوم دپاره په مصر کې څو کورونه تیار کړه[1] او خپلې کوټې قبلې ته وګرځوئ او لمونځ ترسره کوئ او مؤمنانو ته زېری ورکړه.

په دې آیت کې بني اسرائیلو ته یوه برنامه وړپه ګوته شوه، چې په لاندې ټکو کې به یې روښانه کړو:

۱. چېرته چې یاستئ، همالته ځانونه ټینګ کړئ. په خپل منځ کې وېرې او انتشار ته ځای مه ورکوئ. همدا هغه شی دی، چې حضرت مسیح په دې ټکو کې بیان کړی و: تر څو مو چې له عالمِ بالا نه د قدرت لباس نه وي ترلاسه کړی، په دې ښار کې مېشت اوسئ. (لوقا ۲۴: ۴۹)

۲. کورونه مو د خپلو فعالیتونو مرکزونه وګرځوئ، یانې خپلمنځي اتحاد، دروني ثبات، له یو بل سره صبر او نېکخواهي او په خپلو شخصي وسایلو تکیه کول، همدا هغه شیان دي چې په اوسني حالت کې باید ستاسې ټوله توجه پرې را ټوله وي.

۳. لمونځ وکړئ. یانې له الله تعالی سره خپل تعلق پیاوړی کړئ. د هغه ذکر، هغه ته لاسونه لپه کول، د هغه په وړاندې ځان بشپړ غورځول، د هغه صفات تر وسه وسه په ځان کې روزل.

٤. همدا هغه تګلاره ده، چې ستاسې د دنیا او آخرت ټول زېري په کې نغښتي دي. په ټول ځان د دغې تګلارې عملي کولو ته متې راونغاړئ. د درې نکتو دغه برنامه په لنډو ټکو کې په دې ډول بیانولی شو: استقامت، ځان جوړونه، له الله سره تعلق. دې برنامې بلاخره کومه پایله ورکړه، قرآن یې په دې ټکو کې راته بیانوي:

او د دوی په ځای مو هغه خلك چې کمزوري کړی شوي وو، د هغې ځمکې د ختیځ او لویدیځ وارثان کړل چې برکت مو پکې اچولی دی او ستا د رب د ښېګنې وعده په بني اسرائیلو تمامه شوه ځکه چې دوی صبر کړی وو او ټول هغه څه مو تباه کړل چې فرعون او قوم یې جوړول او لوړول. (اعراف: ۱۳۷)

1 تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا؛ ژباړه شاه ولي الله صاحب په دې کې الفاظو کې کړې: ساکن کنید قوم خود را به شهر مصر در خانها. قبله د قَبَلَ اسم نوع دی. او اصل مفهوم یې د «توجه مرکز» دی. وایي قبلت الماشية الوادی: حیوانات درې ته متوجه شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ظاهري حالات چې هر څومره هم سخت شي، د نوي ژوند امکان تل موجود وي

وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا (فرقان: ۵۳)

او دی هماغه ذات دی چې دوه سمندرونه يې خوشې کړي چې دا يو ډېر خوږ خوندور دی او دا بل مالګين تريخ او د دواړو ترمنځ يې يوه پرده واچوله، او يو بند چې منع کړی شوی دی.

دا کيفيت په هر هغه ځای کې مونډل کېږي، چېرته چې سيند په يوه لوی سمندر ورګډېږي. په دې سربېره، د سمندر په ځينو نورو برخو کې هم د خوږو اوبو چينې بهېږي، چې اوبو يې د سمندر د ډېرو ترخو اوبو په منځ کې هم خپل خوږوالی ساتلی وي. د ترکيې امير البحر سيدي علي رئيس (رومي کاتب) په خپل کتاب مرأة الممالک کې، چې د شپاړسمې ميلادي پېړۍ اثر دی، په خليج فارس کې همداسې يو ځای په نښه کړی دی. ده ليکلي دي، چې په دې بند کې تر تروو اوبو لاندې د شيرينو اوبو چينې دي، چې ما د خپلې کښتۍ لپاره هم د څښاک اوبه ترې اخيستې دي. په اوسنۍ زمانه کې چې امريکايي شرکت په سعودي عربستان کې د تېلو د استخراج چارې پيل کړې، نو په لومړيو کې يې له همدغو چينو نه خپلې اوبه ترلاسه کولې. وروسته ظهران ته نيژدې ځاګانې وکيندل شوې او بيا به يې له هغو نه د څښاک اوبه وررايستلې. بحرين ته نيژدې هم د سمندر په تل کې د خوږو اوبو چينې شته، چې د دې هېواد وګړو تر يو څه مودې پورې د څښاک د اوبو منګې ترې ډکول.

دا خو د آيت ظاهري مضمون دی، چې د الله تعالی د قدرت د يوې کارنامې په مټ د خدای د واحد معبود او واحد رب کېدو لپاره استدلال په کې شوی دی. خو د دې آيت په بين السطور کې يو ډېر لطيف ټکی د يوه بل مضمون په اړه هم سترګکونه راته وهي. او هغه دا دی، چې د انساني معاشرې سمندر که هر څومره هم تريخ او تريو وي، خو الله تعالی چې کله وغواړي، د هغې له تل نه د نېکې ډلې يوه شيرينه چينه را ټوکولی شي او د سمندر د ترخو اوبو څپې چې هر څومره هم زور ووهي، د هغې چينې په نغاړلو کې به يې هېڅ کله هم بری په برخه نه شي. (تفهيم القرآن جلد ۳، ۴۵۸ مخ)

کاينات د خدای کارخونه ده. په دې کارخونه کې هر لوري ته د خدای پيغام خور وور دی. خو دا پيغام يوازې هغه خلک اوري، چې خپل غوږونه يې د غيرالله له هنګامو نه خوندي ساتلي وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صحافت: یو فرصت چې تر دې دمه مو ورنه ګټه نه ده اخیستې

د خندق په غزوه (٦٢٧ء) کې چې د ابوسفیان په مشرۍ کې د مشرکینو لس زره پوځ په مدینه راوخوت او هلته یې ولیدل چې د ښار په شاوخوا کې تقریباً شپږ کیلو متره اوږد خندق کیندل شوی دی، چې ژوروالی یې شاوخوا دوه نیم متره او سور یې شاوخوا درې متره و، نو د دې صحنې په لیدو د ابوسفیان له خولې ووتل: «**والله ان هذا المکیدة ماکانت العرب تکیدها**» یانې د خدای په قسم دا یو داسې چل دی، چې عربو تر اوسه پورې نه دی کړی.

د اسلام د لومړنیو زرو کلونو تاریخ له دغه ډول پېښو پورمامور دی. مسلمانان چې ژوندي وو، نو نویو نوزو چلونو او تدابیرو په خپلولو کې له ټولې دنیا نه وړاندې وو، او چې کله یې د زوال څپېړه وخوړه، نو اوس یې حال داسې دی، چې هغه طریقې چې سل کاله پخوا کشف او په نړۍ کې رواج شوي دي، مسلمانان نن ورځ هم د هغوی له استفادې نه بې برخې دي.

د محرومیتونه په دې فهرست کې صحافت هم راځي. په ښکاره خو په اسلامي هېوادونو کې ګڼ اخبارونه خپرېږي، خو دا ټول اخبارونه د اشخاصو او ادارو «خیال پردازی» وي. په دې اخبارونو کې یو هم په واقعي مفهوم کې اخبار نه شو بللی. معاصر ژورنالیزم د الله تعالی ډېر نادر نعمت دی. په ماضي کې د دې نعمت یو نازک مثال په شاعرانه قصیدو کې لټولی شو. په یوه معیاري قصیده کې د فطرت منظرې، رومان، ادب، تراژیدي، ټولنیزې او نفسیاتي خبرې، لنډه دا چې هر څه به په کې وو. د هر ذوق سړي به په دې قصیدو کې د خپلې لېوالتیا او علاقې برخه ورلی شوه. همدا وجه ده، چې په پخوا زمانه کې به قصیدې تر ټولو ډېرې په خلکو



(c) ketabton.com: The Digital Library

کې خوربدې. په اوسنۍ زمانه کې ژورنالیزم د دې قصیدو پرمختللی علمي صورت دی. د دې معنا دا ده، چې یوه داسې صحیفه وپنځول شي، چې د خپلو متنوع مضامینو او خپل بې پرې طرز له امله په لوی شمېر خلکو کې ولوستل شي او د دغسې یوې کثیرالمطالعه صحیفې له خپرولو وروسته خپله خبره د خپلې صحیفې په بین السطور کې ور ځای په ځای شي. معاصر ژورنالیزم په بشپړه معنا تبلیغ دی، مگر له هغه تبلیغ نه یې لاره په بشپړه معنا جدا ده، چې عموماً یې د وعظ او مناظرو خلک ترسره کوي او زموږ اخبارونه یې ژورنالیستک نقل (کاپي) ده.

اړتیا ده، چې په لوړ معیار یوه اوونیزه په [پښتو، دري، انگریزي؛ ژ] او نورو ژبو را وایستل شي. د دغې ورځپاڼې په ټاکلو حدودو کې باید هر هغه څه خپاره شي، چې یو عام [افغان؛ ژ] پرې پوهېدل غواړي. په دې ورځپاڼه کې د ټولې اوونۍ د نړیوالو خبرونو لنډیز را اخیستل شوی وي. د هېواد د ابادۍ د فعالیتونو لنډه پېژندنه په کې شوې وي. د اوسنۍ نړۍ له پنده ډکې پېښې ولري. د [هندوانو، عیسویانو، شیعه گانو او نورو ډلو؛ ژ] د مذهبي فعالیتونو یادونه په کې راغلې وي. د اخلاقي او ټولنیز سمون په هکله د بېلا بېلو خلکو نظریات ولري. په ساینس او د ژوند په نورو څانگو کې د بشري پرمختگونو ارزونه ولري او بیا د اسلام او مسلمانانو په هکله هغه خبرې په کې وي، چې زموږ مسلمانانو د اصلاح او تر نورو پورې د اسلام د پیغام رسولو لپاره یې په ورځپاڼه کې راوړل غواړو. او دا ټول دې په بې پرې او علمي اسلوب کې وي، نه دا چې د مناظره بازۍ او قصیده نگارۍ په اسلوب کې وي. د ورځپاڼې طرز دې هغه وي، چې د عمومي مطالعې لپاره اړین دی او مقصد دې یې هغه وي، چې د دیني دعوت او د ملت د احیاء په اصطلاحاتو کې یې بیانولی شو.

که دا کار سل کاله پخوا پیل شوی وای، نو هغه څه چې نن ورځ یې موږ د «خبر نامې» په نوم په ذهن کې لرو، شاید تر اوسه پورې به یوه «انقلاب نامه» گرځېدلې وه. اړتیا ده، چې د دې مقصد لپاره د مشترکې پانگې یوه اداره جوړه شي او په کاروباري سطحه وچلول شي. دغسې یوه ورځپاڼه له تجارتي او اصلاحي دواړو اړخونو سل په سلو کې کامیابېدلی شي، په دې شرط چې اړینه پانگه او د کار خلک ورته راټول شي.

د جاهلیت په زمانه کې په عربي دنیا کې شعر هماغسې حیثیت درلوده، چې په اوسنۍ زمانه کې یې ورځپاڼه لري. په هغه زمانه کې به عربو موزون کلام ډېر زیات خوښاوه. که به یوه کس دلچسپې پېښې او جذباتي سوژې په اعلي عربي ژبه کې نظم کړې، نو سمدستي به د خلکو خولو ته ولوېدې او په عمومي غونډو او ناستو کې به زمزمه کېدې. گواکې شعر په هغه زمانه کې، د فکرونو د خپراوي وسیله وه، هغسې چې په اوسنۍ زمانه کې ورځپاڼه ده.

کعب بن اشرف شاعر و. په بدر کې د قریشو له ماتې وروسته ده ډېر له جوشه ډک شعرونه وویل، چې په قریشو او نورو خلکو کې سمدستي خپاره شول. دغه راز عبدالله بن ابی او داسې نورو عربو به هم د اسلام په ضد شعرونه لیکل او په عامو خلکو کې به یې خپرول. د دوی په ځواب کې حسان بن ثابت هم نظمونه ولیکل، چې په هغه زمانه کې یې گواکې د ځوابي ورځپاڼې دنده ترسره کوله او تر عامه ناستو پورې د مسلمانانو د دریځ د رسونې ذریعه وگرځېدل. سیرت ابن هشام له دغسې اشعارو تر خولې ډک دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سکاټ لینډ په جهیل کې د ارتقا د تیورۍ لپاره د بیولوژیکو نښو لټون


د مریخ په مخ د ژوند د لټون خبرونو دومره غوغا جوړه کړه، چې په دنیا کې به یو تن هم له دې کیسې ناخبره نه وي پاتې شوی. خو په همدې ورځو کې (جولای – اکتوبر ۱۹۷۶) ساینسپوهان دې ته ورته په یوه بله گمنامه هڅه کې هم لگیا وو. ساینسپوهان د سکاټ لینډ په لاش نیس جهیل کې د لرغوني زماني د ډیناسور په لټون کې وو. د دواړو ماموریتونو مقصد یو و. د ژوند د پیدایښت په هکله د بیولوژي پوهانو د نظریو تصدیقول. اوسني پوهان وایي، چې د حالاتو ارتقا د خپلو دروني حالاتو له مخې ژوند ته وجود وربښي. د دې مفروضې له مخې په ځمکې سربېره باید په نورو ځایونو کې هم ژوند موجود وي. په دې برخه کې مریخ ته د ساینسپوهانو ډېره لویه هیله ده. خو لومړي او دوهم وایکینگ بلاخره په ثبوت ورسوله، چې په معلوم کاینات کې بله هېڅ داسې نکته نشته، چې هلته دې زموږ په څېر ژوند ساوې واخلي.

د دغې نظریې په فرضیو کې یوه فرضیه دا ده، چې په لرغوني زمانه کې خورا ستر او دېب ډوله ځناور په ځمکه کې پایېدل، چې وروسته له منځه لاړل. خو تر اوسه پورې د یادې فرضیې په ثبوت کې ساینسپوهانو ته یوازې د تیږه شویو هډوکو ټوټې په لاس ورغلې دي. خو اټکل دا دی، چې د دغه لرغوني نسل لږ تر لږه یو غړی په لاش نیس جهیل کې ارومرو شته دی. په دې برخه کې په ۱۹۷۲ او ۱۹۷۵ کې گن څېړنیز ماموریتونه په لاره واچول شوو. په ۱۹۷۶ کې د امریکایي انجینرانو او ساینسپوهانو یوه ډله له خورا ډېرو وسایلو او ابزارو سره د یاد جهیل غاړې ته ورسېده. د دغې ډلې مالي لگښت نیویارک ټایمز او د تطبیقي علومو اکاډمۍ (بوسټن) پر غاړه اخیستی وو. په دې پروژه باندې شاوخوا ۷۵ زره ډالره لگښت راغی. خو یوازې د همدې پیسو له مخې د دې پروژې ټول لگښتونه نه شو سنجولی، ځکه په دې ډله کې گډونوالو څېړونکو او کارپوهانو په رضاکاره توگه هم برخه اخیستې وه. په دې سربېره د دې پروژې زیاتره وسایل او توکي هم له مرستندویه لارو ترلاسه شوي وو.

پر ۸ نومبر ۱۹۷۶ بوسټن خپل وروستی راپور خپور کړ، د دې راپور له مخې یاده ډله د فرضي ځناور یا د هغه د نښو په موندلو کې پاتې راغلې وه.

په دې پروژه کې چې کومې کښتۍ کارول شوې وې، هغه ټولې په عصري وسایلو سمبال وې. تر اوبو لاندې کامره، په اوبو کې کارېدونکی ټلویزون، د ثبت آله، د اوبو په تل کې لیدونکي دوربینونه او داسې نور او په خوا کې د دې کښتیو د مرستې لپاره په فضا کې چورلکې هم همېش څرخېدلې.





(c) ketabton.com: The Digital Library

# نړۍ دعوتګر ته سترګې په لاره ده

د جولای ۱۹۷٦ شپږمه نېټه وه او د ماښام شپږ بجې وخت و. د ښار په یوه سرک روان وم. په دې شېبه کې یوه نا اشنا دوکاندار غږ راپسې وکړ. په پنجابي ژبه کې یې پوښتنه وکړه «له مرګ وروسته بنده بېرته همدې دنیا ته راځي؟»

«نه»

«نو بیا چېرته ځي؟»

«خپل ښښتن ته ورځي د حساب ورکولو لپاره.»

او «بیا؟»

«او بیا یا دوزخ ته ځي او یا جنت ته.»

د دې خبرې په اورېدو سپین ږیري دوکاندار په څوکۍ کې خپل اړخ بدل کړ او غلی شو. څېرې یې د حال په ژبه ویل چې ژور فکر په مخه کړی دی. په دې شېبه کې مې احساس کړه، چې اوس به نورې خبرې کول د هغه د فکر په بهیر کې خنډ اچول وي. څو دقیقې د هغه بلې پوښتنې ته په تمه شوم او بیا مې خپله لاره ونیوله.

دې ته ورته یوه پېښه مشهور امریکایي عیسوي مبلغ بلي ګراهم هم لیکلې ده. دی په خپل کتاب «د خوشالۍ راز» کې لیکي، چې د نړۍ یوې سترې سیاسي څېرې یو ځل ده ته وویل: زه نور زوړ شوی یم. ژوند خپله ټوله معنا بایللې ده. ډېر ژر به یوې نامعلومې دنیا ته ور ننګ شم. اې ځوانه! آیا ته د امید یوه وړانګه راکولی شې؟»

دغه مرګ په هر انسان پسې دی، چې د ماشومتوب او ځوانۍ په پړاو کې خو له بنده نه هېر وي. خو بالاخره د تقدیر پرېکړه پرې برلاسې کېږي او په زړبوډۍ کې چې نور طاقت نه وي ور پاتې، نو هله دا احساس ورته ودرېږي، چې اوس به په هر حال کې څو ورځې وروسته د مرګ کور ته ورمېلمه کېږي. په دې وخت کې دی مجبور وي، چې په دې پوښتنه غور وکړي، چې «له مرګ وروسته به څه ورسره کېږي؟» بنده په دې تلاش کې وي، چې د امید یوه وړانګه یې په ګوتو ورشي، چې له مرګ نه وروسته حالاتو کې رڼا ورو‌ښني.

دا د ژوند مهم‌ترین سوال دی. الله تعالی د دې پوښتنې د ځواب لپاره پیغبران را استولي. خو نن ورځ هغه خلک چې د پیغمبر وارثان دي، شاید له هغو نه به پخپله هم مرګ هېر شوی وي. نو له هغو نه یې څه تمه وکړو، چې نور خلک دې له دې حقیقت نه اګاه کړي.


له مرګ نه وروسته له انسان سره څه کېږي، د همدې پوښتنې د ځواب لپاره قرآن کریم رالېږل شوی دی. د قرآن کریم د خاوندانو تر ټولو لوی مسؤلیت دا دی، چې دنیا له دې حقیقت نه خبره کړي. که دوی دا کار ونه کړي، نو د قیامت په ورځ چې له قومونو سره حساب کېږي، نو دوی به له دې امله د مجرمینو په ډله کې ولاړ وي، چې د انسانیت لپاره مهم‌ترین حقیقت ورسره و، خو خلک یې پرې خبر نه کړل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د منځنۍ افريقا ولسمشر اسلام قبول کړ

سره له دې چې مسلمانان له خپلو دعوتي مسؤليتونو د جرم تر بريده غافل دي، خو بيا هم حق دين په خپل زور د خلكو زړونو ته لاره مونډلې ده. په دې برخه کې ډېر مهم او نوى خبر په تېرو ورځو کې له افريقا نه واورېدل شو. د منځنۍ افريقا جمهور رئيس جنرل بوکاسا له خپل وزير اعظم، لومړي مرستيال، کورنۍ او ګڼو نورو وزيرانو سره يو ځاى د اسلام غېږې ته پناه يوووړه.



پر ۲۵ شوال ۱۳۹۶هـ (۱۸ اکتوبر ۱۹۷۶) د دوشنبې په ورځ ولسمشر بوکاسا د خپل هېواد د پلازمېنې بانګي په جومات کې، چې د ليبيا ولسمشر معمر القذافي هم ورسره و، د ماسپښين د لمانځه په مهال د «**لا اله الا الله محمد رسول الله**» انقلابي کلمه تېره کړه او د خاتم النبينﷺ دين ته يې غاړه کېښوده. نوموړي خپل نوم صلاح الدين احمد بوکاسا ته تبديل کړ. پخوانى نوم يې جان بيډل بوکاسا و. د ليبيا مشهور عالم او د جمعية الدعوة الاسلامية سکرتر شيخ محمود صبحي په ولسمشر بوکاسا د شهادت کلمه ولوسته او د اوداسه طريقه يې ورته وښودله. بيا ولسمشر قذاقي، ولسمشر بوکاسا ته د قرآن پاک يوه نسخه ډالۍ کړه او نصيحت يې ورته وکړ، چې هر سهار او ماښام يې تلاوت کړي. دواړو مشرانو په ګډه د ماسپښين لمونځ وکړ او د «**الله اکبر الله اکبر**» د نعرو په شور کې د بانګي په سرکونو باندې تېر شول. له دغې تاريخي پېښې وروسته د جمهوري منځنۍ افريقا زرګونه وګړو اسلام ته غاړه کېښوده.

ولسمشر بوکاسا په ۱۹۲۱ز کې نړۍ ته راغى. پلار يې د بانګي رياست والي و. په شپږ کلنۍ کې بوکاسا خپل پلار له لاسه ورکړ. څو ورځې وروسته يې مور هم له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې. او بيا يې روزنه تره او نيکه ته ور له غاړې شوه. بوکاسا خپلې لومړنۍ زدکړې په کاتوليک ښوونځي کې وکړې. له ليسې وروسته په ۱۹۳۹ز کې په فرانسوي پوځ کې مقرر شو او په دوهمه نړيواله جګړه کې يې د ولسمشر ډيګول تر لاس لاندې له نازيانو سره جګړې وکړې. په فرانسه کې بوکاسا د بې سيمه مخابراتو د کارپوه او ښوونکي په توګه کار وکړ. په ۱۹۵۹ کې بېرته منځنۍ افريقا ته راستون شو. منځنۍ افريقا چې ازادي واخيسته، نو تره يې د هېواد لومړنى ولسمشر شو. تره يې په ۱۹۶۱ز کې بوکاسا ته د وسله والو ځواکونو د جوړولو مسؤليت ور له غاړې کړ. په ۱۹۶۴ کې بوکاسا د پوځ مشر (چيف آف سټاف) وټاکل شو. په ۱۹۶۶ کې يې پوځي انقلاب په لاره واچاوه او د ولسمشرۍ واګې يې په خپلو لاسونو کې واخيستې. بوکاسا د غربي نفوذ ډېر سخت مخالف و..

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په عیسوي مکتبونو کې یې زدکړې وکړې، د فرانسې په پوځ کې یې دنده وکړه، د غیراسلامي نظام تر سیورې لاندې د اقتدار په ګدۍ کېنوست، خو دا یو شی یې هم د حق د منلو پر وړاندې خنډ ونه ګرځېده.**

او څکه یې د ۱۹۷۲ز په اګست میاشت کې په خپل هېواد کې ټولې سینماوې وتړلې. په دې چې غربي فلمونو د خلکو اخلاق ورتباه کول. په همدې ورځو کې یې د غلو لپاره د لاس غوڅولو سزا اعلان کړه. د اسرائیلو په هکله هم د ده دریځ ډېر زیات سخت و. پر اکتوبر ۱۹۷۳ز کې یې له اسرائیلو سره د خپل هېواد ټولې اړیکې ختمې کړې.

د ولسمشر بوکاسا هېواد د خپل نوم (جهوري منځنۍ افریقا) سره سم بالکل د افریقا په منځ کې پروت دی او په نقشه کې یې د چاډ، کانګو، سوډان او کامرون په منځ کې لتولی شو.

د منځنۍ افریقا نفوس درې میلیونه دی، چې پنځه سلنه یې مسلمانان دي. دې سیمې ته لومړی ځل په تېره پېړۍ کې د عرب سوداګرو په لاس اسلام ورسېده.

د منځنۍ افریقا په پلازمېنه بانګي کې لیبیا د یوه ډېر ستر جومات د جوړولو چارې پیل کړې. د دې جومات نوم به «صلاح الدین بوکاسا» وي.

د منځنۍ افریقا مساحت ۲۲۷۱۱۸ مربع میله دی. نفوس یې ۲۲۷۰۰۱ دی. پلازمېنه یې بانګي او رسمي ژبه یې فرانسوي ده. مرطوبه هوا لري. له اساسه یو کرنیز هېواد دی. ماشینرۍ او نور توکي ورته له خارجه واردېږي. او صادارتي توکي یې پنبه، الماس، قهوه، لرګی او داسې نور دي.

په منځنۍ افریقا باندې د فرانسې ولکه په ۱۸۸۹ز کې پیل شوه. پر ۳۰ اګست ۱۹۶۰ز کې یې خپلواکي ترلاسه کړه. پر سپتمبر ۱۹۶۰ز کې د ملګرو ملتونه غړی شو. پر فبروري ۱۹۷۲ کې یې اوسنی ولسمشر د عمر تر پایه پورې د ولسمشر په توګه وټاکل شو.

د انګرېزانو برخلاف، فرانسوي او یورپي استعمارګر به چې هر ځای په واک کې و، نو په لوی لاس به یې په ځایي اوسېدونکو کې د زدکړو روحیه ځپله. څکه خو په منځنۍ افریقا کې لومړی پوهنتون له ازادۍ وروسته په ۱۹۷۰ کې جوړ شو. په ۱۹۷۱ز کې په هېواد کې ۷۷۸ ابتدایي ښوونځي وو، چې د زده کوونکو شمېر یې ۱۷۸۵۵۰ و. د لوړو زدکړو لپاره خارجي هېوادونو ته د تللیو زده کوونکو شمېر ۶۰۰ و. په ۱۹۷۲ز کې د دې هېواد مرکزي بودیژه ۱۱۶۸۰ میلیونه فرانکه وه.

### الخبر الذی آهملناه!

سره له دې چې ولسمشر بوکاسا اسلام منلی دی، خو نوموړی ډېر کلونه پخوا لا د خپل فطرت له مخې ګڼو اسلامي احکامو ته رسېدلی و. په ۱۹۷۱ کې نوموړي په خپل هېواد کې ګڼې داسې سزاګانې رواج کړې، چې له اسلامي «حدودو» سره یې تر ډېره بریده ورته والی درلوده. دې خبرونو ته نړیوالو رسنیو «د وحشت لرغونې زمانې ته د ستنېدو» نوم ورکړی و. او د اسلامي هېوادونو رسنیو دا خبره اصلاً د اهمیت وړ نه وه ګڼلې. له دې خبرې نه له اغېزمنېدو وروسته لیکوال (مولانا) د مصر په ورځپاڼه «الاخبار» کې د «**الخبر الذی أهملناه**» یانې هغه خبره چې موږ پرې سترګې پټې کړې په نوم یوه مقاله خپره کړه. په دې مضمون کې مې د ولسمشر بوکاسا له خوا د تصویب شویو سزاګانو په تفصیل کې لیکلي و، چې حال دا چې مسلمانان پخپله د اسلامي حدودو په پلي کولو شرمېږي، خو نور خلک بیا د خپل سالم عقل په مټ اسلامي لارښوونو ته رسېږي.

### د تیوسوفیکل ټولنې پېژندنه

موږ تر وسه وسه هڅه کوو، چې د «الرساله» په مقالو کې تنوع او ګڼوالي ته لاره پرانیزو. فکر مو وکړ، چې د بېلا بېلو مذاهبو او روحاني او اخلاقي غورځنګونو پېژندنې ته به هم یوه پاڼه ځانګړې کړو. دغه مقاله د همدې فکر له مخې خپروو. که لوستونکو خوښه کړه، نو دا لړۍ به په راتلونکې کې هم دوام ولري.

تیوسوفیکل ټولنه پر ۱۷ نومبر ۱۸۷۵ز په نیویارک کې رامنځته شوه. اوسمهال ډګروال هینري استیل اولکاټ (امریکایي) د دې ټولنې مشر او آغلې ایچ پي بلاوتسکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(روسی) يې سکرتره ده. د دې ټولنې له منځته راتلو څو کاله وروسته دوی د نيويارک پرېښودو ته اړ شول، په دې چې د دې ټولنې دفتر چې په کوم کور کې و، د هغه کرايه يې نه شوی ورکولی او له هغه ځايه هندوستان ته راکډه شول.

پر ۱۷ جنوري ۱۸۸۰ز کې دوی د بمبۍ پر ساحل کوز شول. دلته به يې ويناوې کولې او خارجي ورځپاڼو او مجلو ته د ليکنو له لارې يې خپل لګښتونه پوره کول. په ۱۸۸۲ کې دوی جنوبي هند ته مخه کړه. هلته يې مدراس ته نيژدې په اډيار کلي کې ۲۷ جريبه ځمکه وپېرله. وروسته چې ډاکټره ايني بسانت د دې ټولنې مشره شوه، نو هغې ۲۱ جريبه نوره ځمکه هم وپېرله او د ټولنې د مرکزي دفتر ودانۍ يې په پښو ودروله.

ياده ټولنه دوه اساسي کتابونه لري:

۱- پټ اصول (Secret Doctrine)

۲- د تيوسوفي کيلي (The Key To Theosophy)

دوی په دې عقيده دي، چې د لرغونې زمانې اووه کسان تر اوسه پورې ژوندي دي او د انسانيت د خير او ښېګڼې لپاره شپه او ورځ په کار لګيا دي، دغه ټولنه د هغو اوو کسانو له برکت او فيض نه برخمنه ده. اوسمهال د دې ټولنې د غړو شمېر تر سلو زرو هم ډېر ښودل کېږي.

په دې ټولنه کې د هر مذهب خلک پاييږي. تر دې چې هغه خلک هم چې يو مذهب هم نه مني. د ټولنې له خپلې خولې، د دوی مقصد د حقيقت لټون او انساني ورورګلوي ته رسېدل دي. تر دې دمه لاندې کسان د دې ټولنې لوی مشران پاتې شوي:

H. P. Blavatsky 1831-1891

H. S. Olcott 1832-1907

Dr. Annie Besant 1847-1933

Subramanyam Aiyar 1842-1924

C.W. Leadbeate 1847-1934

W.Q. Judge 1851-1896

C. Jinarajadana 1875-1953

N. Sri Ram 1889-1973

Dr. G.S. Arundaie 1878-1945

د جوړېدو پرمهال د دې ټولنې د غړو ټول شمېر صرف پنځلس تنه وو. اوس يې شاوخوا شپېتو هېوادونو ته وزرې کړې او په دوولس سوه ښارونو او کليو کې يې څانګې پرانيستې دي. د ټولنې بنسټګر له شرقي علومو اغېزمن و او په انسان کې يې يو ځل بيا د روحاني ويښتابه لپاره د دې ټولنې بنسټ ايښی و. د خپلې ادعا له مخې، دی د يوه هندوستاني مهاتما شاګرد دی چې اروا يې له نجات موندلو وروسته د همالیې په غرونو کې مېشته ده. د دې ټولنې مرکزي کلی اډيار اوس په يوه ښار بدل شوی دی. دې ارامه او پرسکونه ځای ته د نړۍ له ګوټ ګوټ نه خلک د «دروني ځواک» لپاره لارې رالنډوي. د هندوانو لپاره بنارس، د مسلمانانو لپاره مکه او د يهودانو لپاره يروشلم چې کوم حيثيت لري، د تيوسوفي د پېروانو لپاره اډيار هماغه حيثيت لري. آغلې ايني بسانت د هندوستان په سياست کې چې پښه کېښوده، نو ډېر بې سارې شهرت يې په برخه شو.

برنارډ شا، بسانت «د نړۍ تر ټولو ستره مېرمن» بللې وه. دمګړۍ د دې ټولنې شپېرم مشر جان بی ايس کوټس (زوکړه ۱۹۰۶) دی. دی انګرېز دی او په يوه وخت کې په څلورو نړيوالو ژبو کې د وينا استعداد لري: فرانسوي، اسپانوي، جرمني او انګريزي. ښاغلي کوټس په يوه مرکه کې وويل: موږ هڅه کړې ده، چې شرقي حکمت او غربي ارزښتونه سره غاړه غړۍ کړو. موږ د روحانيت په دنيا کې د ملګرو ملتونو دنده ترسره کوو. د ټولنې شپېرم رئيس ښاغلي کوټس وويل: «د تيوسوفيکل ټولنې د تعليم او کتابونو او نورو فکټورونو له لارې په غرب کې له پټو علومو سره دلچسپي ډېره زياته شوې ده. خو يو خطر پاتې دی. د خپلو دروني ځواکونو په تلاش کې انسان لا هم د روحانيت په ځای په نفسياتو ډېر زيات ټينګار کوي. موږ بايد انسان له دې تمايل نه وژغورو او خلکو ته ووايو، چې د مخفي علومو د ترلاسي طريقه دا ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د خودغرضۍ له ژوند نه لاس واخیستل شي.»

د تیوسوفیکل ټولنې هدف په لاندې ټکو کې رانغښتی دی:

۱- له نسل، عقیدې، جنس، فرقې یا رنګ نه ور اخوا د نړیوالې انساني ورورۍ رامنځته کول.

۲- د مذهب، فلسفې او ساینس تقابلي مطالعې ته وده ورکول.

۳- د انسان په فطرت کې د مخفي قوانینو او ځواکونو درک لګول.

د تیوسوفیکل ټولنې د بنسټګر بلاواتسکي په هکله ویل کېږي، چې دا پر دې وسې وه، چې خارق العادة کارونه ترسره کړي. مثلاً ویل کېږي، چې په ۱۸۸۰ کې یو ځل دا په شمله کې وه او له څو کسانو سره ځنګله ته په چکر تللې وه. دوی چې کله چای دم کړ، نو ناڅاپه یو بل مېلمه هم راغی. د دې مېلمه لپاره پیاله او قاب نه وو. بلاواتسکي د خپلو مخفي ځواکونو په مټ یوه پیاله او قاب را وغوښتل، چې کټ مټ د هماغه سایز او ډیزاین وو، چې یو سېټ یې تیار له دوی سره اینښی و. دا پیاله او قاب لا هم په خپل اصلي حالت کې د تیوسوفي په مرکز ایډیار کې خوندي دي.

دغه راز نورې کیسې هم مشهورې دي. مثلاً دې کولی شوی، چې د مرکزي دفتر له بېلا بېلو ګنټیو څخه هره ګنټۍ له خارجي وسیلې او مرستې پرته مازې د خپل پټ ځواک په مټ وغږوي. بلاواتسکي به مهاتما موریه خپل ګرو باله، چې ډېر پخوا یې له دې نړۍ سترګې پټې کړې وې. خو د بلاواتسکي د خولې خبره، چې د ګرو روح اوس هم د همالیې په غرونو کې اوسېږي او هر چا چې د مهاتما له روح سره اړیکه نیول غوښتل، نو د بلاواتسکي په مټ یې کولی شوی. لېواله شخص به خپله خبره بلاواتسکي ته کوله. بلاواتسکي به دغه خبره د پټو وسیلو له لارې د مهاتما اروا ته رسوله. د مهاتما اروا به ځواب ورته رالېږه او دغه ځواب به ناڅاپه د یوه کاغذ په مخ په انګرېزي ژبه کې ولیکل شو. او داسې نور.

چې کرشنا مورتي د خپلې ځوانۍ په کلونو کې په ۱۹۲۵ کې د تیوسوفیکل ټولنې غړیتوب ترلاسه کړ. دی د یوې ډېرې بې وزلې کورنۍ زلمی و. آغلې بسانت په ماشومتوب کې لا مورتي له خپلې کورنۍ بېل کړ او لوړې زدکړې یې پرې وکړې. مورتي وروسته د تیوسوفیکل ټولنې ډېر مشهور غړی شو. خو په ۱۹۳۰ کې یې له ټولنې سره اختلاف پیدا شو او له ټولنې سره یې مخه ښه وکړه. ده ویل چې حقیقت د کوم غورځنګ یا سازمان له لارې نه شي ترلاسه کېدلی، ځکه چې سازمان د ازاد لټون په ځای په انسان کې د تعصب ذهنیت پیدا کوي. خو نن ورځ هم د کرشنا مورتي په غونډو کې ډېرې ګډون کوونکي د تیوسوفیکل ټولنې غړي وي.

د اوسني عصر انسان یو ځل بیا په روحانیت رامات شوی دی. خو خپل روحاني لټون  د مذهب په ځای نفسیاتو ته په مخه کړی دی.

آغلې بلاواتسکي په ۱۸۷۳ کې د بحري جهاز له لارې امریکا ته روانه وه. له دې سره د لومړۍ درجې ټکټ و. دې ولیدل چې په بندرګاه کې یوه ډېره بې وزلې ښځه د افسوس او حسرت په حال کې پرته ده. له پوښتنو وروسته معلومه شوه، چې مېړه یې په امریکا کې مزدور دی او دې له خپل ماشوم سره د دریمې درجې ټکټ اخیستی و، تر څو په خپل مېړه پسې امریکا ته ځان ورسوي. خو د جهاز مسؤلینو ورته ویلي و، چې دا ټکټ جعلي دی، کوم چا په درغلۍ کې پیسې ترې وهلې او جعلي ټکټ یې ورکړی دی. بلاواتسکي سمدستي د لومړۍ درجې ټکټ واپس کړ او د دریمې درجې دوه نیم ټکټونه یې واخیستل او له ښځې او د هغې له بچي سره یې په عادي کلاس کې امریکا ته سفر وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا مور دې آزموینې ته تیاری نیولی دی؟

شفیق احمد صاحب – انباله، ډیلي

د قیامت په ورځ به د انسان پښې تر هغو پورې له ځایه ونه ښوري، چې د پنځو شیانو پوښتنه ترې نه وي شوې:

- عمر دې په کومو کارونو کې تېر کړ؟
- مال دې په کومو لارو مصرف کړ؟
- خپله ځواني دې چېرې وکاروله؟
- په ترلاسه کړي علم دې څومره عمل وکړ؟
- مال دې له کومو لارو لاسته راوور؟

راوي: حضرت ابن مسعود رض ـــ ترمذي

# په مدینه کې د درې مذاهبو کانفرنس

**د اسلام پیغمبر د جومات دننه نامسلمانانو ته په خپله طریقه د عبادت کولو اجازه ورکړه. نن ورځ د پیغمبر ص د منونکو حال دا دی، چې دا خبره یې هم زړه نه مني، چې د نورو مذاهبو خلک دې جومات ته راشي او د الله تعالی له لوري ښودل شوی عبادت دې په خپلو سترګو وګوري.**

د هجرت په لسم کال د نجران (یمن) د عیسویانو یوه ډله مدینې ته راغله. تر دې وخته پورې مدینه د اسلام مرکز ګرځېدلې وه. خو یهود لا هم په لوی شمېر په کې مېشت وو. مدینې ته چې د شپېتو ممتازو عیسویانو وفد ورسېده، نو یهود یې هم لیدو ته راغلل او په دې ډول دغه ناسته له عملي پلوه د خپلې زمانې د درې لویو مذاهبو په یوه کانفرانس بدله شوه. نو ځکه ډاکټر هیکل دې ناستې ته د «مؤتمر الادیان الثلاثة» نوم ورکړی دی. (حیاة محمد، ۲۳۴ مخ)

ابن اسحاق په خپل سیرت کې لیکلي دي:

**قدم علی رسول اللهﷺ وفد نصاری من نجران ستون راکبا فیهم اربعة عشر رجلا من اشرافهم، فدخلوا علیه مسجده حین صلی العصر و قد حانت صلاتهم فقاموا فی مسجده، فقال رسول اللهﷺ دعوهم فصلوا الی المشرق.**

ژباړه: نبي کریمﷺ ته د نجران د عیسویانو وفد راغی. هغوی شپېته تنه سواره وو، او په دې ډله کې یې څوارلس د عیسویانو اشراف هم وو. دوی مسجد نبوي ته د مازدیګر مهال ورسېدل (غالبان د یکشنبې ورځ به وه) او د دوی د لمانځه وخت داخل شوی و. دوی په مسجد نبوي کې د خپل لمانځه لپاره ودرېدل. او مخونه یې (د مسلمانانو برعکس) د ختیځ په لوري اړولي وو. (خلکو غوښتل چې منع یې کړي خو) نبي کریم ص وفرمایل چې په خپل حال یې پرېږدئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې سره یوې خوا ته اسلام له ځانه رواداري او واقعیت‌بیني وښودله او بلې خوا ته عیسویانو او یهودانو دا وکړل، چې هغوی په خپلو منځونو کې او د مسلمانانو په خلاف د مناظرې په انداز کې مذهبي بحثونه راواخیستل. د ابوالانبیاء حضرت ابراهیم(ع) یادونه چې راغله، نو یهودو وویل: ابراهیم یهودي و، عیسویانو ځواب ورکړ، چې غلطه خبره مو وکړه، ابراهیم عیسوي و. په دې شببه کې نبي کریم ص په نرمه او خوږه ژبه ورته وویل، چې تاسې د ابراهیم(ع) په اړه ولې بحثونه کوئ، تورات او انجیل خو له هغه نه وروسته نازل شوي دي. نو بیا هغه یهودي یا عیسوي څرنګه کېدلی شي؟ حقیقت دا دی، چې ابراهیم نه یهودي و، نه عیسوي. هغه خو د خدای رښتونی موحد او خدای ته غاړه ایښودونکی و. (آل عمران – ٦٧)

د مدینې په یاده ناسته کې همدغه ډول بحثونه روان وو. یو ځل یهودو نبي کریم ص ته وویل: «محمده! آیا تاسې غواړئ، چې موږ هم هماغسې ستا عبادت وکړو، څرنګه چې عیسویان د عیسی عبادت کوي؟» د نجران یوه عیسوي په دې خبرې پسې زیاته کړه: هو، موږ هم له تاسې نه په دې هکله پوهېدل غواړو. نو ووایئ، چې ستاسې مقصد څه دی؟ نبي کریم ص وفرمایل: خدای ته پناه وړم له دې چې خلک له الله نه پرته د بل چا عبادت ته دعوت وکړم.

ابن هشام لیکلي دي، چې د نجران خلک چې مدینې ته راغلل او یهودان پرې راټول شوو، نو دواړو د یو بل غلط ثابتولو ته ملاوې وتړلې:

فقال رافع بن حریملة ما انتم علی شئ و کفر بعیسی و بالانجیل، فقال رجل من اهل نجران من النصاری الیهود ما انت علی شئ وجد نبوة موسی و کفر بالتوارة

ژباړه: رافع بن حریمله یهودي وویل، تاسې پر هېڅ شي هم نه یاستئ او له عیسی او انجیل نه مو انکار وکړ. د نجران یوه عیسوي وویل، تاسې پر هېڅ شي هم نه یاستئ او له موسی او تورات نه مو انکار وکړ.

د اسلام پیغمبر ولیدل، چې خبرې او دلایل د حق خبرې په سپیناوي کې پاتې راغلي دي، نو د مباهلې طریقه یې غوره کړه. په قرآن کریم کې حکم راغلی دی چې «نو څوك چې په دې کې نانده درسره وهي، وروسته له هغه علمه چې درته راغلی نو ورته وایه راځئ چې راوغواړو زموږ زامن او ستاسو زامن او زموږ ښځې او ستاسې ښځې او موږ په خپله او تاسو په خپله بیا زاري او عاجزي وکړو او په دروغجنو د الله لعنت ووایو.» پیغمبر(ص) دا خبره وفد ته وکړه او له دې خبرې سره یې فاطمه، علي، حسن او حسین راوستل او میدان ته یې مخه کړه. خو د نجران عیسویانو زړه ونه کړ، چې په دې معامله کې برخه ورسره واخلي. هغوی اعلان وکړ، چې موږ تر اوسه پورې ستاسې مذهب ته غاړه نه ږدو، البته د اسلامي حکومت سیاسي اقتدار منلو ته تیار یو.

ښاغلي ویلیم میور د دې پېښې په تړاو لیکلي دي:

«په ټول داستان کې د محمد ص د ایمان ټینګوالی له ورایه څرګند دی، او د هغه د دې عقیدې ګواهي هم روښانه ده چې د ده تعلق د غیبو له عالم سره تړلی دی. نو ځکه حق ټول د محمد په خوا دی.» (لائف آف محمد، ٢٦٠ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مبارک کار


پرتاپ ورځپاڼې (۱۲ اکتوبر ۱۹۷۶) په خپله سرمقاله کې د محمد علي کلي په هکله لیکلي و:

«د محمد علي غوندې لوبغاړي ډېر کم وي. د بوکسینګ لوبې محمد علي ته د میلیونري تاج ور په سر کړ. اوس يې په ذهن کې اسلام ته د خدمت فکر راپورته شوی دی. دا مبارک کار دی. اوس به دا ګورو، چې آیا د اسلام له خدمت نه خو به هم هماغسې انحراف نه کوي، ځرنګه يې چې د تقاعد اخیستو له اعلانونو کوي.»

څومره عجیبه خبره ده. مسلمانان هغه ټول کارونه کوي، چې نور خلک يې نامبارک ګڼي. البته د هغه یوه کار لپاره متې نه رانغاړي، چې نه یوازې د دوی تر ټولو لویه مذهبي فریضه ده، بلکې پردي هم چمتو دي، چې د مبارک کار نوم ورته واخلي.»



# د کتاب نړۍ



حضرت عثمان د خپل خلافت په دوهم کال ۲۵هـ کې د قرآن کریم د جمع کولو کار وکړ. د صدیق اکبر چمتو کړی مصحف، چې له حضرت حفصه سره خوندي و، هغه يې راوغوښته، او د زید بن ثابت تر نظر لاندې يې شپږ نسخې برابرې کړې. یوه یوه نسخه يې د شام، بصرې، کوفې، مکې او مدینې خلکو لپاره ځانګړې کړه او حکم يې ورکړ، چې له دې پرته دې نور ټول مصحفونه له منځه یوړل شي. او یوه نسخه حضرت عثمان له ځان سره کېښودله. د دې اړتیا ځکه پېښه شوه، چې د قرآن کریم په قرأت کې اختلاف پیدا شوی و. مثلاً یزید نخعي وایي، چې زه د ولید بن عقبة په زمانه کې په یوه جومات کې ناست وم. یوه کس غږ وکړ، څوک چې د ابو موسی په قرأت قرآن کریم تلاوت کوي، هغه دې د باب کنده حلقې ته راشي. بل اواز وکړ، څوک چې د ابن مسعود په قرأت قرآن لولي، هغه دې د دار عبدالله حلقې ته راشي. د دواړو ډلو د سورې بقرې په یوه آیت کې اختلاف و. یوه لورې به اتمو الحج والعمرة للبیت لوسته. بل لورې اتمو الحج والعمرة لله. دغه ډول اختلافات ډېر زیات پیدا شوو. او خلکو به په هغه چا د کفر ټاپه وهله، چې قرأت به يې د دوی د خوښې له قرأت سره مختلف و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوندي وه. بیا له بني امیه سره اندلس ته ورسېده. په اندلس کې چې اسلامي حکومت راړنګ شو، نو له هغه ځایه فاس ته ولېږدول شوه. د ابن بطوطه د قول په اساس په اتلسمه هجري پېړۍ کې هم دا نسخه په فاس کې وه او د وینو ځاځکي پرې لګېدلي وو. ځینې نور بیا د ابن بطوطه په قول کې شک کوي. ابن کثیر په فضائل القرآن (۴۹ مخ) کې لیکلي دي، چې د عثماني مصحف یوه نسخه ما په دمشق کې لیدلې وه. دا ډېره اعلی لیکل شوې نسخه وه.

په تاشقند کې اوسنۍ نسخه د تیمور په زمانه کې په سمرقند کې وه. په ۱۸۶۸ز کې چې کله روس په سمرقند غلبه ترلاسه کړه، نو د زار له امر سره سم دغه نسخه د پیترز برګ میوزیم ته ولېږدول شوه. د ۱۹۱۷ له اشتراکي انقلاب وروسته مسلمانانو له لینن نه دغه نسخه بېرته وغوښتله، چې بیا د لینن په امر باندې دغه نسخه تاشقند ته ورسېده.

د حضرت عثمان د ځانګړي مصحف په خوندیتوب کې چې کوم خلک شکمن دي، د هغوی شک په څو مواردو ولاړ دی. برزنجي په خپل کتاب «نزهة الناظرین» کې لیکلي دي، چې اوسمهال څلور نسخې ژوندۍ دي (په مکه، مدینه، قاهره او پېتروګرېډ کې) او د څلور واړو په هکله د عثماني مصحف ادعاوې کېږي. د حیراني ځای دا دی، چې په څلور واړو نسخو کې په فسیکفیکهم الله آیت باندې سره نښه لګېدلې ده. حال دا چې دغه ډول نښه یوازې په یوه نسخه امکان لرلی شي. (د تر بحث لاندې کتاب لیکوال په دې فکر دی، چې وروسته خلکو په خپلو نسخو باندې د تبرک له مخې په پورتني آیت باندې سره نښه لګولې ده.» دغه راز، له بعضې روایتونو نه معلومېږي، چې په عثماني مصحف کې ولات حین مناص (ص: ۳) په ولا تحین لیکل شوی دی. حال دا چې په پورتنیو درېیو مصحفونو کې ولات حین لیکل شوی او داسې نور. د لیکوال دغه هڅه د ستاینې وړ ده، چې په ډېره خواري یې دواړه ډوله دلیلونه او روایتونه راټول کړي دي. خو په پای کې یې چې کومه پایله رااېستې ده، هغه همدا ده، چې د تاشقند په میوزیم کې اوسنۍ نسخه اصلي عثماني نسخه ده. د لیکوال خبرې په لاندې ټکو کې رالنډولی شو:

۱- ابن قتیبه د عثماني مصحف تر طوس پورې د رسېدو خبره کړې ده. له «تاریخ سمرقند» نه ښکاري، چې د حضرت عثمان د یوه خپلوان نوم سعید و. هغه دغه نسخه په ۵۴هـ کې سمرقند ته وړې.

۲- ابن بطوطه لیکلي دي، چې په بصره کې یې عثماني مصحف لیدلی وو. اټکل دا دی، چې تیمور چې کله په بصرې قبضه وکړه، نو هغه نسخه یې ځان سره سمرقند ته یووړه، له هغه وروسته دا نسخه همدلته په سمرقند کې پاتې وه. بیا په ۱۹۱۷ کې له اشتراکي انقلاب وروسته تاشقند ته ولېږدول شوه.

**ان هذا المصحف الموجود عندنا هوا احد المصاحف العثمانیة التی بعث بها الا الامصار ان لم نقل انه نفس المصحف الامام اذ دعوی ذلک یحتاج الی نصوص صریحة** (۴۰ مخ)

«هغه مصحف چې نن له موږ سره دی، که دا هماغه مصحف نه وي، چې حضرت عثمان به تلاوت کاوه، نو لږ تر لږه دا له هغو مصحفونو نه خامخا دی، چې ده چمتو کړل او بېلا بېلو ښارونو ته یې واستول. په دې چې له موږ سره داسې ښکاره دلایل نشته، چې د هغوی له مخې دغه نسخه د عثمان شخصي مصحف وګڼو.»

دا مصحف ټول ۷۰۶ مخونه لري. اوس یې یوازې ۵۵۲ پاڼې پاتې دي. نورې یې خلکو د تبرک په توګه ترې ایستلې دي. که هغوی خبر وای، چې دا نسخه تبرک نه دی، بلکې د اسلام تاریخي لاسوند دی، نو هغوی به هېڅ کله دا کار نه و کړی. د دین غلط تصور دین ته څومره نقصان رسولی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کاینات ستره او هیښووونکې کارخونه د دې ګواهي ورکوي، چې دا کاینات چلوونکی لري

شمسي منظومه یا لمریز نظام د اسماني اجرامو ټولګې ته ویل کېږي، چې په مابین کې یې یو روښانه ستوری ځلېږي او شاوخوا یې ناروښانه سیارې په ځانګړو مدارونو کې څرخېږي. تر دې دمه یوازې یو شمسي نظام پېژندل شوی دی چې زموږ ځمکه هم په همدې نظام کې ده. خو د ستورپوهانو اټکل دا دی، چې په کایناتو کې به ممکن دغه ډول یو میلیون نور شمسي نظامونه هم وي.

د کهکشانونو نظام هغې ټولګې ته ویل کېږي، چې روښانه ستوري د یوه ځانګړي نظام له مخې حرکت په کې کوي. موږ ته نیږدې کهکشان د شپې له خوا د سپینې کربښې غوندې ښکاري، په دې کهکشان کې شاوخوا سل بیلیونه ستوري دي او زموږ شمسي نظام هم په همدې کهکشان کې دی.

**که انسان د کاینات په پراختیا غور وکړي، نو خپل ځان به دومره کوچنی په سترګو ورشي، چې د خپل لویوالي خیال به د ملنډو تر بریده بې معنا ورته ښکاره شي**

لمر زموږ د کهکشان په قاب کې له خپلو ټولو ستورو سره په یوه ثانیه کې د ۱۷۵ میله په سرعت سره منډې وهي. زموږ کهکشان دومره پراخه دی، چې له دې لوړ سرعت سره، سره زموږ شمسي نظام چې د کهکشان له مرکز نه یو دوران پوره کوي، نو ۲۰۰ میلیونه کاله وخت نیسي. په کاینات کې دې ته ورته تر یوه بیلیون نه هم ډېر کهکشانونه څپې وهي او په هر کهکشان کې څو بیلیونه خورا ستر ستوري چورلېږي.

د یوه کهکشان په منځ کې ستوري له یو بل نه دومره لرې وي، چې زموږ لمر ته د ډېر نږدې ستوري رڼا چې په یوه ثانیه کې ۱۸۶۰۰۰ میله په سرعت سره حرکت کوي، تر ځمکې پورې په څلور کاله کې را رسېږي.

د اسماني اجرامو دغه دومره ستر نظام څه شي ټینګ کړی دی. ستورپوهان په دې اند دي، چې د اسماني اجرامو ترمنځ د کشش قوه د دې ټینګښت سبب ده. زموږ د کهکشان سور د ستورپوهنې د اندازې له مخې یو بیلیون نوري کاله دی؛ یانې ۵۸۶،۵۶۹،۶۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ میله.

لمر د دې کهکشان نسبتا کوچنی ستوری دی، چې د تودوخې درجه یې څوارلس میلیون ډګري سانتي ګراد ده. د لمر په شاوخوا کې نهه ستوري څرخېږي او په دې سربېره د بې شمېره وړو، وړو ستورو یوه حلقه هم له لمر نه را تاوېږي. زیاتره ستوري خپلې سپوږمۍ هم لري. زموږ ځمکه ۱ سپوږمۍ، مریخ ۲، مشتري ۱۳، زحل ۱۰، اورانوس ۵ او نیپتون ۲ سپوږمۍ لري. په دې سربېره سل بیلیونه لکۍ لرونکي ستوري هم زموږ د شمسي منظومې برخه دي او مریخ له ځمکې نه ۴۹ میلیونه میله واټن لري.


د لمر قطر ۸۶۴۰۰۰ میله دی او د لمریز نظام د کتلې ۹۹ سلنه برخه لمر جوړوي. د لمر کتله، د ځمکې له کتلې نه ۳۰۰،۰۰۰ چنده زیاته ده.

د لمریز نظام دروني ستوري (عطارد، زهره، مریخ، ځمکه) شاوخوا یو حجم لري. ورپسې څلور لویې سیارې مشتري، زحل، اورانوس او نیپتون دي. پلوتو، چې وروستۍ سیاره ده، حجم یې شاوخوا له ځمکې سره برابر دی.

د کایناتو د حرکت نظام تر نه اټکلېدونکي بریده هیښووونکی او حیرانوونکی دی. سپوږمۍ له خپلې سیارې نه راڅرخېږي. سیاره له لمر نه، لمر خپل ټول نظام ورسره اخیستی او د کهکشان په قاب په حرکت کې دی. بیا کهکشان له خپلو ټولو وسعتونو او بې شمېره ستورو سره په لا ډېره پراخه دایره کې څرخېږي. دا حرکت دومره عجیبه دی، چې بعضي وختونه یو بشپړ کهکشاني نظام د حرکت په حال کې د بل کهکشاني نظام له منځ نه تېر شي او د دواړو ترمنځ هېڅ حادثه او تصادم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم نه رامنځته کېږي.




محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصی بن کلاب بن مره بن کعب بن لوی بن غالب بن فهر بن مالک بن کنانه بن خزیمة بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان

## یوه کورنۍ جګړه چې په ټول تاریخ یې سیوری خپور شو

د قادسیې په جګړه (۱۴هـ) کې چې د دواړو خواوو لښکرو یو بل ته سنګرونه ټینګ کړي وو. له ایراني لښکر نه یو مشهور توریالی په خپل اس د جنګ ډګر ته راووت. له اسلامي لښکر نه عاصم بن عمرو د مقابلې لپاره ور وړاندې شو. د دوی دواړو ترمنځ لا یو څو وارونه شوي وو، چې ایراني عسکر پښې سپکې کړې. عاصم بن عمرو له شا ورپسې ورغی. ایرانی شهسوار د خپل لښکر لومړني صف ته نږدې شوی و، چې عاصم بن عمرو پرې ور ورسېده او د هغه اس یې له لکۍ نه راونیوه او را ویې ګرځاوه. سړی یې له اس نه راپورته کړ او په زور یې په اس باندې خپلې مخې ته کېناوه او بیا یې اس ته پونده ورکړه او له خپل لښکر سره یو ځای شو.

د صفین او جمل (۳۶هـ) په خپلمنځي جګړو کې د دغه ډول زړورو خلکو ۹۰ زره سرونه وشیندل شوو. حقیقت دا دی، چې که د راشده خلافت په پای کې خپلمنځي جګړې نه وای پیل شوې، نو د ځواک او زور کوم بې ساری سېلاب چې له عربي نړۍ راپورته شو، هغه به د اسیا، افریقا او اروپا ټولې سیمې د توحید په سیمو بدلې کړې وې. یوازې استرالیا او امریکا به ممکن د استثنا په توګه پاتې وو، چې په پخوا زمانو کې له پراخو سمندرونو نه اخواته اوښتل د امکان وړ خبره نه وه.

هغه څه وو چې د دې سېلاب مخ یې د «بل» په ځای «ځان» ته بدل کړ. دا خبره به تر ډېره بریده سمه وي، چې د دې سبب یوه کورنۍ جګړه وه، چې پراخه شوه او د ملي جګړې رنګ یې واخیست او بلاخره په ټول اسلامي تاریخ خپره شوه.

په ۲۰۷ز کې د عرم سېلاب له لاسه په یمن کې ډېره لویه تباهي راغله. د دې ځای اوسېدونکو خپل وطن پرېښوده او نورو سیمو ته یې مخه کړه. په دې خلکو کې خزاعه قبیله مکې ته راغله او د حضرت اسماعیل (۱۹۳۷ – ۲۰۷۴ق م) اولاده یې له سیمې وشړله او مکه یې ونیوله. وروسته د دې سیمې ځایي اوسېدونکي یوې او بلې ته خوا تیت او پرک شو. شاوخوا دوه نیم سوه کاله په مکه باندې د خزاعه قبیلې ولکه ټینګه وه. قصی بن کلاب لومړنی شخص و، چې د قریشو پاشلی ځواک یې بېرته یو موټی کړ او په ۴۴۰ز کې یې له جګړو وروسته له خزاعه قبیلې نه د مکې سرداري بېرته واخیسته.

قصی خانه کعبه ورغوله. د رفاده، سقایه، حجابه او قیاده منصبونه یې ایجاد کړل. د ملي نښې په توګه یې لواء جوړه کړه. د ملي شورا بنسټ یې کېښووده، چې دارالندوه به یې بلله. طبیعي ده، چې له دې ټولو هڅو وروسته قصی ته د ټولو قریشي قبیلو سرداري په ګوتو ورغله.

له قصی نه وروسته د قریشو سرداري د ده په زامنو کې روانه وه، خو په دریم نسل کې د قصی په کورنۍ کې د واک په سر شخړې شروع شوې. د قصی لمسی هاشم ډېر هوښیار او برجسته سړی و. ده د تجارت له لارې نه یوازې خپله شتمني زیاته کړه، بلکې قریش یې هم د بین المللي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاجرانو مقام ته ورسول. ده د خپلو ورونو په مرسته د غسان او حبشې له پاچاهانو او د یمن، عراق او فارس له حکومتونو سره تجارتي تړونونه وکړل او خصوصي امتیازات یې ترې لاسته راوړل. د روم قیصر نه یې هم دا اجازه ترلاسه کړه، چې د قریشو تجارتي مالونه به له مالیې پرته د شام او فلسطین هېوادونو ته تېرېږي. نو په دې سره د قریشو تجارتي قافلې به په اوړي کې شام ته تللې، ځکه چې دغه سیمه یخه او سرسبزه وه او د ژمي په موسم کې به یې یمن ته سفرونه کول، چې ګرمه علاقه وه. (قریش: ۲) هاشم د خپلو تدابیرو له لارې د قریشو اقتصاد ته ډېره زیاته وده ورکړه او په پایله کې یې په ټوله قبیله کې لویي او عظمت ومنل شول.

د هاشم دې درناوي او پرمختګ د دغې کورنۍ په بله څانګه کې د ده په خلاف کینه او قسات ته لاره جوړه کړه. د هاشم ورور عبدشمس، خو په تېره بیا د عبدشمس زوی امیه د هاشم سرداري هېڅ نه خوښوله. امیه له خپل تره نه د سردارۍ د ترورلو ډېرې زیاتې هڅې وکړې، خو په دې موخه کې یې برۍ په برخه نه شو تر دې چې په همدې غم او خفګان کې یې یو ځل مکه پرېښوده او شام ته یې مخه کړه او لس کاله یې همالته تېر کړل.

له هاشم نه وروسته یو ځل بیا د ده زوی عبدالمطلب د خپلې دبدبې او وړتیا له امله د قریشو سردار شو او د امیه اولاده بیا هم تش لاس پاتې شوه. په دې ډول واک د قصی په هاشمي څانګه کې پاتې شو او د اموي څانګې ژبه پرې لمده نه شوه.

په ۸ هـ کې چې کله رسول اللهﷺ له لسو زرو صحابوو سره د مکې د فتحې لپاره روان شو، نو په یوه ځای کې یې خپل تره عباس رض ته وویل، چې ابوسفیان درسره واخله او په لاره کې پاس په کومه غونډۍ کېنئ، تر څو ابوسفیان، چې د بدر له غزوې وروسته د قریشو تر ټولو لوی رهبر و، د اسلامي پوځونو ننداره وکړي. حضرت عباس همداسې وکړل. حضرت عباس چې ابوسفیان ورسره کړ او د یوې تنګې غرنۍ لارې په خوا یې حرکت وکړ او هلته یې د کېناستو لپاره ورته وویل، نو ابوسفیان یو څه اندېښمن شو او وارخطا یې له خولې ووتل: «**غدراً یا بنی هاشم**» بني هاشمه! آیا د درغلۍ اراده لرئ؟

او کله یې چې لس زره کسیز وسله وال پوځ مخې ته تېر شو، نو په ابو سفیان د وېرې کېفیت راغی، او ویې ویل: «**لقد اصبح ملک ابن اخیک الغداة عظیما**». د وراره واکمني دې نن ورځ ډېر ستره شو.

د عبدمناف د کورنۍ په دې دوو څانګو کې کشمکش دومره ډېر و، چې د جاهلیت په زمانه کې یو کس له یو څه سودا سره مکې ته راغی. یو کس د خریداري لپاره سودا ترې واخیسته، خو پیسې یې ور نه‌کړې او نه یې سودا بېرته ورکړه. هغه سړی یوې غونډۍ ته وختو او چیغې یې شروع کړې. دا خبره د عربو د شان او دبدبې ډېره خلاف وه. نو د بنو هاشم ځینو کسانو د سوداګر مرستې ته راودانګل. هغوی په خپلو منځونو کې ژمنه وکړه، چې که په مکه کې کوم مسافر یا پردی وځورول شو، نو دوی ټول به یې پوره ملاتړ کوي. د بنو هاشمو په دې معاهده کې بنو اسد، بنو زهر، بنو تیم هم ورشریک شوو. خو د عبدشمس کورنۍ له بنوهاشم سره د خپلې کرکې او کینې له امله په دې تړون کې برخه وانه خیسته.

د تاریخ په کتابونو کې چې دغه ډول پېښې لیدل کېږي، هغه په اصل کې د بنو امیه او بنو هاشمو ترمنځ د همدغسې کورنیو کشمکشونو نمونې وي.

د قصی بن کلاب د کورنۍ په دې دوو څانګو کې د سردارۍ په سر کرکه روانه وه، او زیاتره وختونه به یې وړې او غټې جګړې هم کېدلې. تر دې چې د هاشم په کورنۍ کې پیغمبر سترګې وغړولې. اوس نو د اموي کورنۍ په زړونو کې د کرکې لمبې لا زورورې شوې.

دوی لومړی د نبوت مخالفت وکړ او هڅه یې وکړه، چې په دې ډول بني هاشم ته ټیټه وښیي. خو کله چې نبي کریم ص خپلو ټولو مخالفینو ته ماتې ورکړه او په مکې باندې یې قبضه ترلاسه کړه، نو ښکاره شوه، چې نور د نبوت مخالفت کول کومه ګټه نه لري. نو ابوسفیان، د ده زوی معاویه او نورو امویانو اسلام ته غاړه کېښوده، خو بیا هم په دوی کې دا احساس پاتې و، چې له نبوت نه وروسته به سیاسي اقتدار د بنو هاشمو لاسونو ته نه ورپرېږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عمر رض له ځان نه وروسته علي بن ابی طالب د خلافت لپاره ډېر وړ کس لیده. خو د همدې اندېښنې له مخې یې حضرت علي د خلافت لپاره نه شوای نومولی. حضرت عثمان د امیه کورنۍ په یوه څانگه پورې تعلق درلوده، نو د هغه له شهادت نه وروسته چې حضرت علي خلیفه وټاکل شو، نو د بنو امیه لپاره دا خبره د زغم وړ نه وه. د حضرت عثمان له شهادت وروسته د قصاص مسئلې سمدستي دوی ته یوه کامیابه سیاسي حربه په لاس ورکړه او د دغې جذباتي نعرې په سر یې لوی شمېر مسلمانان په خپل ځان راټول کړل. سره له دې چې په دې هڅه کې بریالي نه شول، چې څلورم خلیفه د خلافت له منصب نه لرې کړي، خو معاویه بن ابی سفیان بن حرب بن امیه له خپلې گورنرۍ نه گټه پورته کړه او د اسلامي قلمرو له نیمایي نه ډېره برخه یې له سیاسي پلوه بېله کړه. د حضرت عثمان د شهادت په نوم دوی په خلکو کې داسې اور ته پوکی ورکړ، چې خلکو د لېونیانو غوندې حضرت علي هم وواژه. د جمل او صفین په جگړو کې چې د ۹۰ زره مسلمانانو سرونه وپاشل شوو او تر لسو کلونو پورې د اسلام د توسیع سېلاب په ټپه ودرېده، هغه په اصل کې د امویانو او هاشمیانو د همدغې کورنۍ جگړې ثمره وه، چې ټول اسلامي امت یې په خپلو لمبو کې لولپه کړ.

حسن بن علي په دې راز ډېر ښه پوهېدلی وو، همدا وجه ده چې حسن د امیر معاویه په حق کې له خلافت نه تېر شو او خپل کشر ورور حسین بن علي ته یې هم مشوره ورکړه، چې د خلافت له مسئلې نه دې ځان بالکل گوښه کړي ځکه چې خلک دې ته تیار نه دي، چې نبوت او خلافت دې دواړه په علوي کورنۍ کې یو ځای سره ویني. خو د حضرت حسین رایه دا وه، چې د حق لپاره خپل سر په ورغوي کې ایښودل د باطل په مخکې له سر ټیټولو نه بهتر دی. همدا وه، چې حضرت حسین د خلافت په لاره کې خپل سر ځار کړ. دا پېښه په ٦١هـ کال کې پېښه شوه.

له هغه وروسته اموي واکمنۍ رامنځته شوه. خو بنو امیه چې بنو هاشمو ته په زړه کې کوم بغض او عناد درلوده، هغه وخت په وخت د ملکي چارو په تنظیم کې هم سترگکونه وهل. تر دې پورې چې د دوی دا ذهن جوړ شوی و، چې د هاشم ټوله اولاده له منځه یوسئ، تر څو په راتلونکي کې یې د خلافت هېڅ دعواگر پاتې نه شي. دغه علتونه وو، چې یوه داسې فضا جوړه نه شوه، چې بنو هاشم دې د خپلو سیاسي حقونو ربړېدل هېر کړي. له دننه څخه د دوی په زړونو کې تل د مخالفت اورونو لمبې وهلې. تر هغو چې د ۱۳۲هـ کال پای د یوه بل انقلاب شاهد هم شو، چې بنو عباس د ایرانیانو په مرسته بنو امیه ته د پای ټکی کېښووده.

د بنو امیه فتنه ډېره زیاته توندە وه. خو دغه فتنه په ټوله کې سیاسي فتنه وه. نو ځکه له سیاست سره د دې فتنې جرړې هم وچې شوې. خو بنو هاشم یوه بله تېروتنه دا وکړه، چې د دې لپاره چې خلافت د خپل ځان لپاره منحصر کړي، نو خلافت یې د عقیدې مسئله وگرځوله. دغې تېروتنې یوې سیاسي مسئلې ته مذهبي حیثیت ورکړ او دا امکان یې د تل لپاره د مرغۍ پېۍ کړ، چې د نورو سیاسي جگړو په څېر دا جگړه یوازې مهالنی نقصان ورسوي او د راتلونکو نسلونو لپاره مازې د تاریخ یوه پاڼه پاتې شي.

سیاست په مذهب باندې د بدلولو دغې غلطي اسلام ته دومره تاوانونه اړولي دي، چې شمېر یې ناشونی دی. مثلاً د موضوع حدیثونو د جوړولو فتنه تر ټولو له مخه د همدغې انگېزې له مخې راپورته شوه او دواړو خواوو بې شمېره حدیثونه اختراع کړل. یوې خواته بنو هاشمو د حضرت علي په فضیلت کې دا حدیث راوایسته:

«**انا مدینة العلم و علی بابها**» زه د علم ښار یم او علي د دې ښار دروازه ده.

بل خواته مقابل لوري هم له ځانه یو حدیث اختراع کړ او ویې ویل چې بشپړ حدیث په دې ډول دی:

**«انا مدینة العلم و ابو بکر اساسها و عمر حیطانها و عثمان سقفها و علی بابها»**

زه د علم ښار یم، ابو بکر یې ستنه ده، عمر یې دېوال دی، عثمان یې چت دی، علي یې دروازه ده.

له دغو ډول شیانو نه چې اسلام ته څومره زیان واوښته، د هغه جبران اوس ناشونی دی. خو دا د الله تعالی لوی فضل دی، چې د خپل ځانگړي رحمت له مخې یې قرآن کریم خوندي وساته. که داسې نه وای شوي، نو په دغو جگړو او دغو فتنو کې به اصل دین ورک شوی وو او د الله تعالی بندگان به تر قیامته پورې په سوچه حقیقت باندې له پوهېدو بې برخې پاتې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حدیث** (مولانا سید ابو الحسن علی ندوی)

نبوي حديث يو ډول ډايري او د هغه ۲۳ کلن ژوند ګويانه کتاب ګڼلی شو، چې حضرت محمد ص د نبوت له سرفرازۍ وروسته په دې ځمکه تېر کړی دی. دغه محتاط تول شوی سند موږ ته ښيي، چې رسول الله ص به څرنګه ژوند تېراوه او د شپې او ورځې چارې يې څه وې. دغه راز د نبوي اخلاقو د باريکيو، عادتونو، لومړيتوبونو، جذباتو، افکارو او قول او عمل په هغو تفصيلاتو پوهېدلی شو، چې د تېرې زمانې بلکې د اوسنۍ زمانې د ګڼو معاصرو شخصيتونو په اړه يې هم نه شو موندلی. د حديثو له لارې هر انسان خپل پيغمبر داسې پېژندلی، د هغه له مجلسونو نه ګټه اخيستلی او د مقدسو ساګانو فيض يې وړلی شي، ګواکې د هغه په مجلس کې ناست دی او خبرو ته يې غوږ نيولی دی او له هغه سره يو ځای ژوند کوي. د پېژندنې او معرفت دغه لاره له هغو ټولو خطرونو او مفاسدو پاکه ده، چې په انځورګرۍ او مجسمه سازۍ کې ليدل کېږي او يا يې تېر امتونه ډېر بد هدف وګرځېدل. تېرو امتونو د خپلو پيغمبرانو او روحاني مشرانو د ياد د ژوندي ساتلو په خاطر انځورګرۍ او مجسمه سازۍ ته پناه يووړه او بلاخره يو وخت په ښکاره بت پرستۍ اخته شول. (منصب رسالت، ۲۱۱)

# له مرګ وروسته ژوند

پر ۲۰ جون ۱۹۷۶ز کال کې له شري مول چند (زوکړه ۱۸۸۸) سره د ليدنې پر مهال هغه راته د خپلې مېرمنې کيسه وکړه. دی د سجن ملتان اوسېدونکی و، خو په ۱۹۴۷ کې ډيلي ته راغی. اوس په نوې ډيلي کې له خپل زوی سره اوسېږي. د ده مېرمنه شريمتي تولسی بايي (۱۹۶۵-۱۸۹۰) ډېره نېکه او مذهبي ښځه وه. هغه په ملتان کې په ۱۹۱۹ کې ناروغه شوه. حالت يې نازک شو. تر دې چې يوه ورځ يې د نبض حرکت او ساه ودرېده. خلکو فکر وکړ، چې نوره مړه شوې ده او په پوزه کې يې پنبه ورکېښوده او د اخري وخت د رواجونو تياری يې پيل کړ. دا کيفيت شاوخوا پنځه دقيقې پاتې و، چې ناڅاپه يې وجود په حرکت راغی، ښځې سترګې خلاصې کړې او بېرته را «ژوندۍ» شوه.

له پاڅېدو سره يې وويل «زه چېرته وم؟» چې پوښتنه يې ترې وکړه، نو دې وويل، چې څو کسان مې وليدل چې راغلل او زه يې د تونل غوندې ګرده لاره کې ورسره روانه کړم. په تلو تلو کې يو ځای ته ورسېدو، چې د پاچا دربار لګېدلی و. شاوخوا ته ډېر ښکلي باغونه وو. داسې باغونه ما تر ننه پورې نه وو ليدلي. يو ډېر دروند او د دبدبې سړی هم ناست و. مخې ته يې ډېر کتابونه خواره واره پراته وو، چې د خلکو نومونه پرې ليکل شوي وو. چا چې زه ورسره بيولې وم، هغوی زما نوم وروښوده، نو هغه سړي ورته وويل «تاسو غلط کس راوستی دی، دا ژر بېرته ورسوئ.»

او په دې ډول زه بېرته دلته راغلم.

دا کومه نادره کيسه نه ده. «له بلې دنيا نه د بېرته راتګ» واقعه ډېرو زياتو خلکو ته ورپېښه شوې ده. تر دې چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاصره اروپاپوهنه کې دا مسئله په مستقل ډول د څېړنې او مطالعې موضوع ګرځېدلې ده. په امریکا کې د یوې دوولس کلنې نجلۍ پېښه ثبت شوې وه. دغه نجلۍ یو ځل له مړینې وروسته بېرته راژوندۍ شوې وه. بیا یې په حیرانه او پرېشانه حالت کې خپل مور او پلار ته ویلي وو «د مرګ په دره کې مې له خپل ورور سره ولیدل. ورور مې ډېر په مینه راسره روغبړ وکړ. ما نه غوښتل چې زه د هغه له دنیا نه بېرته راستنه شم. خو هغه زه بېرته دلته را واستولم.» هغې زیاته کړه «دا ملاقات زما لپاره ډېر عجیب و. ځکه تر اوسه پورې خو زما هېڅ ورور نشته.» د نجلۍ مور او پلار په دې خبره ډېر زیات حیرانه شوو.

په قرآن کریم کې راغلي: ژر به خپلې نښانې در وښیي بیا به اخرت وپېژنئ. (سوره نمل - پای) په اوسنۍ زمانه کې د ځینو ښکارندو د علمي مطالعې له لارې چې له مرګ نه وروسته د ژوند په هکله کوم دلایل وړاندې کېږي، و دې شي، چې همدغه ډول نښې نښانې به ښکاره شي. زموږ د اوسنۍ دنیا او له مرګ نه وروسته دنیا په منځ کې شاید ځینې کړکۍ خلاصې وي، چې انسان پرې د خپل ژوند راتلونکي پړاو ته تر ننوتو دمخه لا سر ورهسکولی شي.

حقیقت دا دی، چې د دې نجلۍ یو کوچنی ورور و، چې په کمکیني کې وفات شوی و او نجلۍ ته په دې هکله هېڅ هم نه و ویل شوي.

معاصر تجرباتي ساینس د مرګ یا د بلې دنیا مسئله په دې خبره له سترګو غورځولې وه، چې دا مازې یو خیالي او تصوراتي شی دی او له ساینسي لارې یې مطالعه نه شي کېدلی. خو په اوسنۍ زمانه کې داسې پېښې مخې ته راغلې دي، چې پوهان یې په خپلو تېرو نظریاتو باندې بیاکتنې ته اړ کړي دي. تر دې چې د مرګ او بلې دنیا د مسئلې د ساینسي مطالعې لپاره په اوسنۍ زمانه کې د علم یوه خپلواکه څانګه منځته راغلې. په تېره په امریکا کې په دې موضوع باندې ډېرې برجسته څېړنې روانې دي او د هغو پایلې د کتابونو او راپورونو په بڼه خپرېږي. هغه امریکایي پوهان چې په دې موضوع کې څېړنې کوي، د ځینو نومونه یې په لاندې ډول دي:

ډاکټره الزابیت کیوبلر روز

دوکتور دانیال فریډم

ډاکټر رابرټ ګبن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر چارلس ګرفیلډ

ډاکټر کارلس اوستس

ډاکټر رابرټ ډین ډی کیسل

پروفیسور ایلنډور هیرالډسن

پورفیسور آین سټیون سن

هغه تجربې او مشاهدې چې معاصر انسان دې ته مجبوروي چې له مرګ نه وروسته ژوند د یوه واقعیت په توګه ومني، یو له هغو نه د «مړو شویو کسانو بېرته راتګ» دی. داسې ډېرې زیاتې پېښې ثبت شوې دي، چې له طبي پلوه د یوه کس مړینه تایید شوې وه، خو هغه بېرته دې دنیا ته راستون شوی او حاضرو کسانو ته یې داسې تجربې بیان کړې دي، چې د بلې دنیا وجود پرې ثبوتېده. مثلاً له خپلو مړو شویو خپلوانو سره ملاقات.

یوه عامه مشاهده دا ده، چې انسان د زنکدن په وخت کې خپلو خپلوانو او دوستانو ته اوازونه کوي. که څه هم په دې وخت کې دی د بې هوښۍ په جهان کې وي او د شاوخوا له ژوندیو کسانو نه خبر نه وي، خو دی مړو شویو عزیزانو او دوستانو ته داسې اوازونه کوي، ګواکې هغوی په خپلو سترګو ویني، ګواکې هغوی یې په خوا کې ولاړ دي او د دې لپاره یې څنګ ته راغلي دي چې دی بلې دنیا ته ورسره یوسي. ویل کېږي، چې کله انسان خپلو وفات شویو خپلوانو ته نعرې وهل پیل کړي، نو باید پوه شو، چې اخري شېبې یې رارسېدلې دي.

پنځوس کلن ډاکټر روز تر زرو ډېر داسې خلک له نیژدې مشاهده او مطالعه کړي دي، چې د زنکدن په حالت کې ګرفتاره وو او ګواکې د اوسنۍ دنیا او راتلونکې دنیا منځ ته رسېدلي وو. دې خلکو ډاکټر ته وویل، چې د زنکدن په وخت کې یې ګڼ داسې ملګري او خپلوان لیدو ته راغلل، چې پخوا وفات شوي وو «ترڅو د اخرت د سفر په وخت کې مرسته ورسره وکړي.» که دا خلک په دې دنیا کې د خپل بدن له کوم غړي بې برخې وو، نو د زنکدن په حالت کې به یې داسې محسوسول لکه بدن یې چې له هر اړخه بشپړ وي. مثلاً هغه شخص چې ګوډ به و، هغه به داسې احساسوله، چې دواړه پښې یې رکې و روغې دي.

دغه راز خوبونو هم له مرګ نه وروسته د ژوند په تړاو تجرباتي ثبوت وړاندې کړی دی. داسې ځانګړې پېښې هم ثبت شوې دي، چې یو چا په خوب کې له یوه مړه شوي کس سره لیدلي او خوب لیدونکي ته یې بعضې داسې معلومات او خبرې ښودلې، چې یوازې یو مړ شوی کس پرې پوهېدلی شي.

ډاکټر کسیل په شمالي کارولینا کې د یوه شتمن کس په اړه راته وویل، چې د هغه څلور زامن وو. دغه کس له خپلو درې زامنو نه په کومه خبره خفه شو او د خپلې وصیت نامې په مرسته یې دغه درې واړه اولادونه په جایداد کې له خپل حق نه محروم کړل. کله چې دی وفات شو، نو لنډه موده وورسته هغه څلورم زوی خپل پلار په خوب کې ولیده، چې د وصیت له مخې ټول جایداد د هغه په نوم لیکل شوی وو. په خوب کې یې پلار د خپلې خوښې له چپنو نه یوه چپنه اغوستې وه او ډېر زیات له غوسې او ګیلو نه ډک وو او د خبرو په جریان کې یې بیا بیا ځلې د خپلې کورتۍ دنني جېب ته اشاره کوله. د ځوان چې سترګه راخلاصه شوه، نو د خپل پلار هغه کوټ چې د خوب په وخت کې یې اغوستی و، له الماری راوایست او په دنني جېب کې یې لاس ننویست. د زوی یې له حیرانتیا خوله وازه پاتې شوه، چې ویې لیدل چې په جېب کې یې د پلار په لاس لیکل شوې وصیت نامه پرته وه. په وصیت نامه باندې د شاهدانو لاسلیکونه هم شوي وو. او په دغه وصیت کې تېر وصیت منسوخ شوی وو او هغو درې زامنو ته یې هم حق ورکړی وو، چې د خپلې برخې جایداد ترلاسه کولی شي. پلار له مرګ نه لږ دمخه د جایداد د وراثت په هکله خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېکړه بدله کړې وه. او وصيت نامه يې له سره ليکلې وه او د خپلې بخملي چپنې په دننني جېب کې يې اچولې وه. او بيا مخکې له دې چې خپل ټول زامن د خپلې پرېکړې له بدلېدا خبر کړي، له نړۍ نه يې سترګې پټې کړې وې.

دغسې پېښه د يوې ښځې هم ثبت شوې وه. د ښځې عمليات و، او د عملياتو په جريان کې دا پوره بې هوښه وه. خو وروسته ښځې ډاکټران په عملياتو کې له يوې تېروتنې خبر کړل او ډاکټرانو سمدستي خپله تېروتنه اصلاح کړه. په دې سربېره د عملياتو په جريان کې چې ډاکټرانو کومې خبرې کړې وې، د هغو خبرو يو څه برخه يې هم د مسؤل ډاکټر په وړاندې وويله او د ډاکټرانو ډلې يې هم خبرې ورسره تائيد کړې.

ډاکټر فيلډ ويل، چې په همدې وروستيو کې يې د يوې زړې ښځې معاينه کوله. دا ښځه د هډوکي په سرطان اخته وه. او حالت يې مخ په ځوړ روان و. موږ د ناروغې د درد د لرې کولو چې هر ځومره طريقې عملي کړې، يوې يې هم ګټه ونه کړه. خو ناڅاپه مې داسې احساس کړه لکه حالت يې چې ډېر ښه شوی اوسي. له ښځې نه مې د دې ناڅاپي بدلون پوښتنه وکړه. هغې وويل، چې همدا اوس يې وفات شوې مور ليدو ته راغلې وه او دې ته يې وويل، چې ډېر ژر به دواړه سر يو ځای شي. له خپلې مور سره له خبرو وروسته ښځه ډېره زياته پرسکونه وه او څو شېبې وروسته يې ساه ورکړه.

دا او دې ته ورته نورې ډېرې پېښې دي، چې له څېړنې او پلټنې وروسته د علماوو يوې ډلې راتلونکی ژوند د واقعيت په توګه منلی دی. هغوی وايي چې «موږ له ناچارۍ دا خبره منو، چې له مرګ وروسته يو بل ژوند هم شته، موږ په دې حقيقت د ساينسي تجربو په مټ هم پوهېدلی شو.»

**مرګ د ژوند پای نه دی، راتلونکي ژوند ته د ننوتو دروازه ده.**

په غربي نړۍ کې د مرګپوهنې (Thanatology) يوه خپلواکه څانګه منځته راغلې، چې په ساينسي ميتود څېړنې او تحقيقات کوي. د دې علم په شاوخوا کې ګڼ نور علوم هم پنځېدلي دي. مثلاً د (لوی) عمر ساينس (Gerontology)، اينده پوهنه (Futurology) او داسې نور.

د امريکا ټايم مجلې (۷ جنوري ۱۹۴۷) ليکلي و: «ډېر وخت نه دی تېر شوی، چې د مرګ په هکله به زياتره بحثونه د هغو خاصو کتابونو موضوع وه، چې په اروپا کې به ليکل کېدل او له هغه ځايه به امريکا ته راواردېدل. خو اوس ناڅاپه مرګ په امريکا کې هم ډېره زياته د خوښې وړ موضوع ګرځېدلې ده. د ميني سوټا پوهنتون په دې وياړي چې د مرګ د مطالعې يو مرکز يې جوړ کړی دی. يو سي ايل اې هم په خپل چوکاټ کې يو لابراتوار جوړ کړی، چې هدف يې ژوند ته د زيان رسوونکو حالاتو مطالعه ده. په غونډو کې اوسمهال د مرګ موضوع، د جنس او سياست په څېر له همېشه بهار موضوعاتو هم ور اړولې ده. د اټلانټيک په يوه مضمون کې ويل شوي دي، چې د کتابونو يو نوی ډول پيدا شوی دی، چې د مرګپوهنې کتابونه يې بولي.»

**«الرساله» تر نورو پورې ورسوئ!**

الرساله مازې يوه مياشتنۍ مجله نه ده. د ملت جوړونې او د اسلام د احياء رسالت دی. د الرساله په رسولو کې هلې ځلې کول د الله تعالی په خادمانو کې د خپل نوم ورزياتول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له اسلام نه دمخه د عربو د تاریخ باوري سرچینه قرآن کریم دی نه لرغونی جاهلي ادب

مصري لیکوال ډاکټر طه حسین (۱۹۷۳-۱۸۸۹) د عربو په جاهلي ادب یو کتاب لیکلی دی. دی وایي، چې د عامه باور په خلاف، د لرغونو عربو د ژوند په هکله د معلوماتو بهترینه سرچینه قرآن کریم دی نه جاهلي ادب. دلته د طه حسین د خبرو لنډیز ته تم کېږو.

«زه چې د جاهلیت د زمانې په عربو ځېړنه کوم، نو امروالقیس، نابغه، اعشی، زهیر، قس بن ساعده او اکثم بن ضیفی د اشعارو په لاره هېڅ کله نه ورځم. زه به جاهلي ژوند په قرآن کریم کې لټوم. ځکه له قرآن کریم نه پرته د جاهلیت د زمانې تر ټولو رښتینې نقشه بل هېڅ ماخذ هم نه شي انځورولی.

له موږ سره چې د جاهلیت د اشعارو کومه زېرمه خوندي ده، له هغه نه د عربو د ژوند یو داسې تصویر سترګو ته درېږي، چې خاموش، بې بنیاده، منځتشی، له مذهبي احساساتو بالکل خالي دی. که داسې نه وي، نو بیا د امروالقیس، طرفه او عنتره په شاعرۍ کې دا جذبه ولې نه ترسترګو کېږي؟

قرآن کریم د جاهلیت د زمانې بیخي یوه جدا نقشه راته ترسیموي. آیا قرآن د روم او ایران ترمنځ د جګړې یادونه نه ده کړې، چې عرب قوم یې په دوو برخو وېشلی و. یوې ډلې د روم خیر او ښېګڼې ته سینه دربوله. بل لوري د ایران لمنه ټینګه کړې وه. دا ټکی د اوسنیو جاهلي ادبیاتو منونکو پر دې ګمان د ناسم مهر لګوي، چې عرب قوم له دنیا سره تعلقات نه لرل. تاسو ولیدل، چې قرآن کریم په څه ډول د روم او ایران له سیاستونو سره د دې خلکو د دلچسپۍ او لېوالتیا یادونه کوي.

په سوره قریش کې له بیروني نړۍ سره د عربانو اقتصادي اړیکې سپړل شوې دي. دا دواړه سفرونه به د خارجي دنیا په لور کېدل. یو د شام په لور، بل د یمن، ایران او حبشې په لور. د عربي پیغمبر سیرت هم راته وایي، چې عرب قوم د باب المندب له تنګنا نه په تېرېدو د حبشې هېواد ته هجرت کړی و. همدا سیرت موږ ته وایي، چې دا قوم په حیره تېر شو او له یوې خوا د ایران تر هېواده پورې، او له بلې خوا د شام او فلسطین له لارې مصر ته رسېدلی و.

د امروالقیس کلام ولولئ یا د کوم بل شاعر اثار، ان د جاهلي ادب ټوله ذخیره په دا بل مخ واړوئ، د عربانو د اقتصادي ژوند په تړاو به یوه کلمه هم داسې ونه مومئ، چې د هغوی د اقتصادي اړیکو په برخه کې راته د لارې مشال په لاس راکړي.

قرآن کریم عرب قوم په دوو طبقو وېشلی دی. یوه پانګواله طبقه ده، چې په مال او دولت سر ورکوي او په سود خورۍ کې ډوب پروت دی. بله طبقه د تنګلاسو ده. قرآن کریم په واضحو ټکو کې د همدې دوهمې طبقې په ملاتړ کې ولاړ دی او سودخورې طبقې ته وایي، چې له خدای او رسول سره جنګ ته اماده شئ. دا خبره په صراحت سره هغه فساد راپه ګوته کوي، چې د عربانو په اقتصادي ژوند کې یې غځونې کړې وې. د جاهلي ادب د نظم او نثر هغه کومه کړکۍ ده، چې له هغې نه د نېستمنو او شتمنو ترمنځ د طبقاتي کشمکشونو او ربړو څرکونه راښکاره شي. هغه ادب به څه ادب وي، چې هغه دردونه انعکاس نه کړي، چې نېستمنو به د خپلې نېستۍ له لاسه په ځان تېرول؛ او چې د خپلې زمانې د تمدني، اجتماعي او اقتصادي ژوند له ترجمانۍ نه معذور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قرآن کریم کې بیا بیا ځلې بخیلي او حرص غندل شوي دي. دغسې آیتونه راته ښیي، چې د جاهلیت په زمانه کې عربانو پیسو ته په سپکه سترگه نه کتل او نه یې پیسې هسې د خاورو غونډې بادولې، هغسې چې د جاهلیت په شاعري کې لیدل کیږي، بلکې په دوی کې که د پراخه لاس خلک وو نو بخیل او کنجوس خلک هم په کې وو. که پیسې بادوونکي وو، نو حریصان هم په کې وو. او حق خبره دا ده، چې د عربانو ژوند په ربښتیا هم همداسې و. ځکه په مکه او مدینه کې د ژوند اصلي بنسټ تجارت و. او په لرغونو قومونو کې چې هر چېرته د تجارت یادونه راغلې ده، په خوا کې یې سود، بخل، حرص او ظلم هم یاد شوی دی. دا عیبونه د شتمنیو له جمع کولو سره تړلي دي. حال دا چې په جاهلي ادب کې د دې خبرو هېڅ یادونه نشته. قرآن کریم په ډېر پرېکنده انداز کې د مکې، مدینې او طایف هماغه تصویر زموږ مخې ته ږدي، چې له نورو لرغونو ښارونو، اتن، روم او کارتیج (قرطاجنه) له تصویرونو سره څنگ وهي.

د جاهلي ادب په نوم کوم څه چې موږ ته راپاتې دي، هغه یوازې د صحرا او بادیې عربي ژوند راته یادوي او هغه هم نیمگړی او نیمکله. موږ د جاهلیت د زمانې په اشعارو کې نه کوم چېرته د سمندر یادونه وینو، او نه سمندر ته کومه اشاره شوې ده. گواکې د جاهلیت د زمانې عرب قوم له سمندر نه اصلاً خبر نه وو او هېڅ کله یې په سمندر پښښه نه وه ورکړې. مگر قرآن کریم په عربو دا احسان وباروي، چې «خدای ستاسې لپاره سمندر ابل کړی دی او ستاسې لپاره په سمندر کې گڼې دي.» همدا راز قرآن کریم دا احسان هم پرې ږدي، چې «له سمندر نه تاسې تازه غوښه ترلاسه کوئ» دا ښکاره ثبوت دی، چې عرب له دې شیانو سره بلد وو. د جاهلیت په اشعارو کې دا شی چېرته پیدا کولی شو؟

حقیقت دا دی، چې د جاهلیت د ورځو صحیح تصویر باید د بې معنا جاهلي ادب په ځای په قرآن کریم کې ولټول شي.

(الادب الجاهلی)

# ټوکه

د مرزا غالب (۱۸۶۹- ۱۷۹۷) د کور په بام باندې یوه خونه وه او له دې خونې سره جوخته یوه تنگه او تیاره وړه کوټگۍ وه. د اوړي په موسم کې به دا کوټگۍ ډېره یخه وه. په سخته گرمي کې به مرزا په همدې کوټگۍ کې ناسته پاسته کوله.

یو ځل د روژې میاشت وه، د غرمې له خوا مرزا له خپلو ملگرو سره په دې کوټگۍ کې ناست وو او د چوسر (شطرنج ډوله) لوبه او تفریح یې کوله. په دې وخت کې مفتي صدرالدین خان آزرده راغی. مفتي صاحب چې په کوټگۍ کې د لوبو او ساتېرویو صحنه ولیده، نو مرزا ته یې وویل: موږ په حدیث کې لوستي و چې د روژې په میاشت کې شیطانان تړل کېږي. نن ورځ مې د دې حدیث په صحت باندې شک پیدا شو.

مرزا غالب سمدستي ورغبرگه کړه: مولانا! حدیث بیخي صحیح دی. خبره دا ده، چې شیطانان چې چېرته تړل کېږي، هغه همدا کوټگۍ ده.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پند خبرې

- ✓ روغ انسان احساسات شاته غورځوي او خپلې ستونزې د رياضيکي سوالونو غوندې حلوي.
- ✓ يوه سياستمدار د کيميا لټوونکي ته وويل «د فولادو د سرو زرو کولو تر ټولو اسانه او بريالۍ لاره دا ده، چې فولادو ته د سرو زرو رنګ ورکړه.»
- ✓ ملک ماپارام له غور او فکر پرته خپل زړه درکولی شي، خو چې پور درکوي، نو ښه په غور او فکر به يې درکوي.
- ✓ داسې ماهيان هم شته، چې يوازې په چټلو اوبو کې ژوند کوي.
- ✓ متعصب انسان په خپل ذهن کې يوه دنيا جوړه کړې وي، د ورځې په رڼا کې مخامخ غر نهويني او د هغه له وجود نه انکاري وي.
- ✓ د ګاندي تر ټولو لويه خوبي دا وه، چې جذباتي وينا يې نه شوی کولی.
- ✓ د انسان فطرت افسانې خوښوي. او له حقيقت نه هم ډېر ژر افسانه جوړوي.
- ✓ له ناچارۍ نه انسان مظلوم و. خو چې فرصت په لاس ورغی، ظالم شو.

**سوال او ځواب**

سوال: ډېر خلک د جمعې په ورځ سوره کهف تلاوت کوي او ډېر زيات ثواب يې يادوي، په دې اړه ستاسې نظر څه دی؟

ځواب: په ګڼو روايتونو کې د جمعې په ورځ د سوره کهف د تلاوت فضيلت بيان شوی دی. خو دا ټول روايتونه ضعيف دي، قوي روايت يوازې هغه دی، چې احمد او مسلم له قتاده نه رانقل کړی دی: «**من حفظ عشر آيات من اول سورة الکهف عصم من الدجال**» يانې چا چې د سوره کهف لومړني لس آيتونه حفظ کړل، نو له دجال نه يې ځان وژغوره.

په دې روايت کې نه د «تلاوت» يادونه شته او د نه د جمعې د ورځې. يوازې دومره ويل شوي دي، چې د سوره کهف په لومړنيو آيتونو کې چې کومې لارښوونې راغلې دي، يو مسلمان دې هماغه په ذهن کې ونيسي او په ژوند کې دې يې عملي کړي، نو دغه کس به د دجال د راتلو په زمانه کې له فتنې نه خوندي وي.

اوس د سوره کهف لومړنيو لسو آيتونو ته راشئ. چې غور وکړو، نو دوه نمونې په لاس راځي. يوه د نبي کريم ص اسوه ده، چې د خدای پرستي په لور د خلکو د دعوتولو په هڅه کې د خپل ځان وژونکی و (کهف: ٦) بله له پيغمبرﷺ نه مخکې د ځينو نېکو ځوانانو (اصحاب کهف) اسوه ده، کله يې د خلکو په منځ کې خپل دين په خطر کې وليده، نو له کلي ووتل او يوه غار ته يې پناه يووړه. (کهف: ١٠)

نو د سوره کهف د ابتدايي لسو آيتونو درس دا دی، چې کله په ځمکه باندې د فتنې وزرې وغوړېږي او د خدای سرغړونه شروع شي، نو د ايمان خاوندان دوه لارې لري. يوه دا چې غافلو او سرکښو خلکو ته د الله تعالی پيغام ورسوي او په دې کار کې خپل ټول ځواک او قوت ولګوي. بله دا چې که يې وليدل، چې اوس خبره دې ځای ته رسېدلې ده، چې د نورو د اصلاح په ځای به مو خپل ځان په ازماينت کې اچولی وي، نو په داسې حالت کې پکار ده، چې خپل ځان له عامو خلکو بېل کړي او يوې ګوښې ته پناه يوسي او د ژوند پاتې ورځې هماالته تېرې کړي. – لومړنی حالت د اقدام دی، او دوهم حالت د خونديتوب.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**